٦) گسترش شبکه‌های حمایت از حقوق اطفال در سطح مرکز و ولسوالی‌های نه گانه و تأمین هم‌آهنگی متداوم با آن شبکه‌ها.

۷) رهبری و تدویر جلسات سکتور مصؤنیت اجتماعی از طریق هم‌آهنگی دوامدار با ادارات امارتی مؤسسات ملی و بین المللی، اشخاص و افراد خبیر به منظور تطبیق برنامه‌های بزرگ اجتماعی در سطح ولایت، هم‌چنان توحید و ترتیب گزارش فعالیت‌های انکشافی مرتبط به سکتور و ارسال آن به مقامات ذیصلاح.

۸) تفاهم‌نامه‌ای میان مؤسسه محترم اجتماعی

و رفاه افغانستان و مقام محترم وزارت کار و امور اجتماعی به امضاء رسیده است که در نتیجه آن به تعداد ١٤ مرکز دوستانه در سطح مرکز ولایت و هفت ولسوالی آن جهت رسیده‌گی به اطفال دارای نیازمندی‌های خاص ایجاد و اکنون به تعداد ۷۰۰ تن اطفال تحت حمایت این مؤسسه قرار دارد که دارای خدمات ذیل می‌باشد:

- بیان آداب اجتماعی اسلامی؛
- آگاهی دهی در رابطه به حقوق و محافظت اطفال؛
- کارهای گروهی خواندن ترانه‌ها و قصه‌خوانی؛
- فعالیت‌های سرگرمی شامل بازی‌های کودکانه و غیره...؛

**فعالیت‌ها و دست آوردهای روزنتون‌های ذکور و اناث.**

۱) در سطح ولایت پروان به تعداد دو باب روزنتون امارتی فعالیت می‌نماید که ۱۵۰ تن طفل ذکور و ۹۰ تن طفل اناث در لیلیه‌های جدا گانه مطابق طرزالعمل کاری جذب و تحت پرورش، تعلیم و تربیه و ارائه‌ای خدمات ۲۴ ساعته قرار دارند و هم‌چنان دو باب روزنتون خصوصی در این ولایت مطابق تفاهم‌نامهٔ عقد شده فعالیت می‌نمایند:

- روزنتون خصوصی دارالارقم ۵۰ تن طفل ذکور.
- روزنتون خصوصی بی بی عایشه صدیقه ۲۰ تن طفل ذکور.

۲) ایجاد حلقه‌های حفظ قرآن کریم و حلقه ناظره در روزنتون‌های امارتی این ریاست که خوشبختانه به تعداد ۳۵ تن از اطفال دوره حفظ خویش را به اتمام رسانیده و ۲۵ تن دیگر جهت تکمیل حفظ خویش تحت تدریس قرار دارند.

۳) ایجاد کمپیوتر لب مجهز به همکاری مؤسسه خیریه افرن در روزنتون‌های این ریاست.

٤) راه اندازی کورس‌های تقویتی برای اطفال رونتون‌ها در محوطهٔ این ریاست به همکاری مؤسسه افرن که شامل مضامین: ریاضی، زبان انگلیسی، زبان دری و حرفه کمپیوتر می‌باشد.

٥) ارائه‌ای خدمات تعلیمی قبل از مکتب برای٥١ تن اطفال واجد الشرایط که از طرف کودکستان این ریاست جذب گردیده اند و تحویلی فیس حق الشمول و حق الاجرت آنها به حساب واردات امارت اسلامی افغانستان.


٦) جذب کمک ٤٠ پایه چوکی مکتب، ۷ پایه پکه، ٤ پایه میز تدریسی، ۲ پایه تلویزون ۴۲ انچ و ۲۰ پایه کمپیوتر لپ تاپ به همکاری مؤسسه افرن که بعد از توزیع، جمع و قید جهت آموزش تحت استفاده اطفال روزنتون‌های این ریاست قرار گرفتند.

# فعالیت‌ها و دست‌آوردهای ریاست عمومی قوای بشری در شش ماه اول سال ۱۴۰۴ هـ ش

**الف:** ریاست توزیع جواز کاراتباع داخلی و خارجی از شروع ماه حمل إلی أخیر ماه سرطان سال جاری ١٤٠٤ به تعداد ٨٤٧٥ قطعه جواز کار برای اتباع داخلی توزیع نموده است.

**ب:** آرشیف ریاست عمومی قوای بشری که مسؤلیت حفظ و نگهداشت اسناد و سوابق شهروندان را به عهده دارد و از سال‌های ۱۳۵۳ إلی اکنون بیشتر از ۱۰ میلیون اسناد و سوابق معرفی شده‌گان در آن حفظ و نگهداری می‌گردد، جهت حفظ و نگهداشت بهتر اسناد و سوابق، سیستم دیتابیس برقی ایجاد گردیده و خوشبختانه این روند طبق پلان منظور شده‌ای سال جاری عملاً آغاز گردیده و درج ۲۵ هزار قطعه اسناد و سوابق شهروندان در آن ادامه دارد. در دیتابیس این آرشیف تمامی اسناد، جدول فراغت، دیپلوم‌های بیرون مرزی و فورمه‌های تثبیت فراغت با تمامی مشخصات و فایل آن چنان ثبت گردیده است که هرگاه هموطنان عزیز ما حین ضرورت جهت أخذ اسناد خویش مراجعه نمایند می‌توانند در ظرف کمتر از دو دقیقه از این خدمات جدید و پیشرفته مستفید شوند.

# کارکردها و فعالیت‌های ریاست تفتیش و رهنمایی کار در ربع دوم سال جاری



ریاست تفتیش و رهنمایی کار، وزارت کار و امور اجتماعی متکی به حکم شماره ۱۷۴ مقام عالی ریاست الوزرای امارت اسلامی افغانستان مکلفیت دارد تا به اساس وظایف و صلاحیت‌های قانونی خویش وزارت‌ها، ادارات امارتی و غیر امارتی، بانک‌های امارتی و خصوصی، تصدی‌ها و شرکت‌های امارتی مختلط و خصوصی، رسانه‌ها، کمیسیون‌های مستقل، شرکت‌های امارتی، تشبثات خصوصی و مختلط، مؤسسات و سازمان‌های خارجی و بین المللی را که کارکن در آن مصروف کارهای تولیدی، خدماتی، اداری و مسلکی باشد از استخدام إلی فسخ قرارداد مورد بررسی قرار دهد و هم‌چنان کارکنان که شامل شرایط استخدام قرارداد کار، فسخ قرارداد کار، جواز کار، وقت کار، تنظیم اوقات کار، رخصتی‌ها، مزد و معاش، تأمینات اجتماعی، شرایط صحی و ایمنی کار، البسه و وسایل تحفظی کار، انضباط کار، حل اختلافات ناشی از کار، ایجاد کمیسیون‌های مندرج اسناد تقنینی مرتبط به کار، دفاتر سوانح، ترفیعات و ارتقای درجات کارکنان، جبران خساره‌ای ضرر صحی مرتبط به کار، حاصل و بازدهی کار، سازمان‌دهی کار و سایر احکام اسناد تقنینی مرتبط به کار را در مرکز و ولایات بررسی و رهنمایی نموده تا در تعمیم و گسترش قانونیت عدالت و تقویت ادارات سالم و پاسخ‌گو نقش خویش را ایفاء نماید.

جهت تحقق اهداف فوق الذکر این ریاست در ربع دوم سال ۱۴۰۴ هـ ش طبق پلان خویش فعالیت‌های ذیل را انجام داده است:

۱. بررسی ۹ اداره امارتی و مستقل؛
۲. بررسی ٦٩ شرکت تولیدی و ۲۱ شفاخانه خصوصی؛
۳. بررسی ۱۸ مؤسسه داخلی و خارجی؛

در مجموع این ریاست توانسته است در ربع دوم به تعداد ۱۱۷ اداره امارتی و غیر امارتی را در مرکز مورد بررسی قرار بدهد و از چگونگی تطبیق و رعایت قانون کار، استاد تقنینی مرتبط به کار و در پیوند به بهبود کیفیت خدمات ادارات، رهنمایی‌های لازم را ارائه نماید.

هم‌چنان به تعداد ۲۸ قطعه عرایض شامل شکایات و قضایای حل اختلافات ناشی از کار کارکنان ادارات امارتی و غیر امارتی را در جریان این مدت دریافت و ثبت نمود که از جمله به ۲۰ مورد آن رسیده‌گی شده و کاملاً حل گردیده است که در نتیجه آن حقوق ۳۱ تن کارکن اعاده گردیده و هر یک به حق خویش رسیده اند و متباقی ۸ مورد دیگر آن تحت دوران قرار داشته و به زودی حل خواهد گردید. به همین منوال این ریاست به تعداد ۲۱ ادارۀ غیر امارتی را که قبلاً توسط مفتشین بررسی شده و عقد مقاوله نامه صورت گرفته بود. جهت حصول اطمینان از رفع خلاها و نواقصات مندرج مقاوله نامه‌های عقد شده میان مفتشین کار و ادارات مورد نظر تعقیب گردیده است.

هم‌چنان گروپ‌های سیار مفتشین این ریاست به تعداد ۱۹۴۲۴ تن از کارکنان اتباع داخلی و ۱۸۵ تن از کارکنان اتباع خارجی را که بدون جواز کار بودند شناسایی و جهت أخذ جواز کار به ریاست عمومی قوای بشری معرفی نموده اند.

# تحقیق عرضه و تقاضای بازار کار از سوی ریاست مطالعهٔ بازار کار وزارت کار و امور اجتماعی در سطح افغانستان

**مقدمه**

بازار کار افغانستان در سال‌های اخیر با چالش‌های فراوانی مواجه شده است، از کمبود فرصت‌های شغلی مناسب تا نبود خدمات آموزشی و مهارت‌های کافی، وضعیت کنونی موجود تأثیر عمیق بر اقتصاد و جامعه‌ای ما بجا گذاشته و هم‌چنان بسیاری از افراد جامعه به ویژه جوانان با مشکلات فراوانی در راستای دستیابی به شغل و پیشرفت حرفه‌ای روبرو هستند، که این موضوع نه تنها بر زنده‌گی فردی تأثیر منفی گذاشته بلکه توسعه‌ای اجتماعی و اقتصادی افغانستان را نیز محدود کرده است. با در نظر داشت نقاط فوق و ظهور تکنالوژی نوین و تغییرات سریع در اقتصاد جهان، تقاضا برای خدمات و مهارت‌های جدید در بازار کار افزایش یافته است. این تغییرات نیازمند روی‌کرد هوشمندانه برای شناسایی دقیق خدمات مورد نیاز بازار کار است. از آموزش حرفه‌ای و مهارت‌آموزی گرفته تا ارائه‌ای خدمات حمایتی برای کسب و کارها و کارفرمایان، هر کدام نقش مهمی در ایجاد یک اقتصاد پویا و پایدار دارند. بازار کار با مشکلات روبرو است که اگر بر آن توجه نشود و فرار از آن صورت بگیرد می‌تواند در درازمدت بر روند توسعه‌ای اقتصادی و اجتماعی افغانستان تأثیرات منفی مستقیم بجا بگذارد، از جمله کمبود فرصت‌های شغلی مناسب، کمبود متخصصان ماهر در بخش‌های ضروری و نبود هم‌آهنگی میان خدمات عرضه و تقاضا. این ناهم‌آهنگی منجر به عدم استفادهٔ مؤثر از منابع انسانی و طبیعی خواهد شد در حالیکه منابع فراوان و ظرفیت بالقوه‌ای چشم‌گیری برای رشد این فکتورها وجود دارد. یکی از موانع عمده‌ای دیگری در این عرصه، نبود اطلاعات دقیق و قابل اعتماد پیرامون خدمات مورد نیاز در بازار کار و هم‌چنان نبود معلومات کافی در مورد رشته‌های تحصیلی و مهارت‌های فنی و حرفوی مورد نیاز بازار کار می‌باشد که نه تنها این دو باعث کاهش أثر بخشی برنامه ریزی‌ها و تخصیص منابع شده بلکه مانع توسعه‌ای فرصت‌های شغلی جدید و ایجاد یک اقتصاد پایدار در کشور گردیده است. علاوه از این تعداد افراد نیازمند به خدمات و هم‌چنان تعداد متخصصانی که توانایی ارائه خدمات مذکور را دارند به‌طور دقیق و مشخص معلوم نیستند که این امر نیز سبب پیچیده‌گی بیشتر در یافتن راه حل‌های مناسب گردیده است. بناءً شناسایی نوع خدمات مورد نیاز، شناسایی و تشخیص رشته‌های تحصیلی و مهارت‌های فنی و حرفوی مورد نیاز بازار کار همه باهم یک گام حیاتی برای رشد بازار کار در کشور می‌باشند. فلهذا نتایج این تحقیق می‌تواند به عنوان مبنای اساسی برای تصمیم‌گیری‌های استراتیژیک و طراحی برنامه‌های آموزشی و حمایتی جهت بهبود وضعیت بازار کار مورد استفادهٔ بهتر قرار گیرد.

**اهمیت تحقیق متذکره:**

با مطالعه‌ای میزان عرضه و تقاضای بازارکار به نیروی بشری، می‌توان توازن بین عرضه و تقاضای بازارکار را ایجاد نمود، خلاءها و نواقص موجود که موجب افزایش روز افزون بی‌کاری در جامعه گردیده است را تشخیص داده و با همکاری نهادهای ذیربط به حل آن پرداخت. در نتیجه‌ای مطالعهٔ موضوعات فوق خدمات مورد نیاز مردم مشخص خواهد گردید، تقاضای بازارکار به نیروی بشری مسلکی، تخصصی، فنی و حرفوی و سایر نیازمندی‌های بازارکار را می‌توان تشخیص نمود و هم‌چنان با استفاده از نتایج بدست آمده پالیسی سازان و تهیه کننده‌گان برنامه‌های آموزشی قادر به طرح پالیسی‌ها و برنامه‌های مؤثر خواهند گردید. چون این تحقیق سطح تجربه‌ای ملی در اداره و مدیریت تحلیل معلومات بازار کار را در یک روند قابل قبول اساس می‌گذارد، بناءً راه‌اندازی آن گام است استوار که در جهت صحیح برداشته شده و ما را به یک آینده‌ای درخشان سوق می‌دهد. تحقیق حاضر با هدف شناسایی خدمات مورد نیاز بازار کار، تشخیص رشته‌های تحصیلی و مهارت‌های فنی و حرفوی مورد نیاز بازار کار در افغانستان طراحی شده است. در این تحقیق تلاش شده است تا با استفاده از روش‌های علمی و معلومات میدانی، تصویری واقعی از وضعیت کنونی موجود اقتصادی علی الخصوص عرضه و تقاضا ارائه داده شود. نتایج این تحقیق می‌تواند به عنوان راهنمایی برای سیاست گذاران، سازمان‌های تخنیکی و حرفه‌ای، و کار فرمایان، برای برنامه ریزی بهتر و ارتقای کیفیت زنده‌گی افراد جامعه مورد استفاده قرار

گیرد.

ریاست مطالعهٔ بازار کار ریاست عمومی قوای بشری این وزارت با در نظر داشت اهمیت موضوع که همانا انجام تحقیق عرضه و تقاضای بازار کار در کشور بود، سه قطعه پرسش‌نامه را جهت جمع آوری اطلاعات مورد نیاز بازار کار طرح و ترتیب نموده که بعد از منظوری و تأیید مقام وزارت، نخست ورکشاپ پنج روزه‌ای را به منظور انجام مصاحبه و خانه‌پری پرشس‌نامه‌های متذکره برگذار نمود و از همه اشخاص دخیل در موضوع جهت اشتراک در ورکشاپ متذکره ذریعه مکتوب متحدالمال بتاریخ ١٤٤٦/١٢/٢٥ هـ ق دعوت به عمل آورد. این ورکشاپ هذا جهت آگاهی و ارتقای ظرفیت ٦٦ تن از کارمندان ۳۳ ولایت و ۲۰ تن از کارمندان مرکزی که جمعاً ٨٦ تن می‌گردید بتاریخ ١٤٠٤/٣/٤ هـ ش در تالار انستیتوت کار برای مدت پنج روز تدویر گردید.

**سه قطعه پرسش‌نامه که طرح شده بود قرار ذیل است:**

١. پرسش‌نامهٔ شناسایی و تشخیص خدمات مورد نیاز! این پرسش‌نامه به هدف شناسایی خدمات مورد نیاز جامعه طرح و ترتیب گردید. ساحه‌ای تطبیق آن در جامعه وکلای گذر، ملک‌های قریه جات، اشخاص نخبه نواحی و ولسوالی‌های مرکز و ولایات می‌باشند.

٢. پرسش‌نامهٔ تشخیص رشته‌های تحصیلی! شناسایی و تشخیص رشته‌های تحصیلی مورد نیاز بازار کار (عرضه و تقاضای بازار کار). ساحه‌ای تطبیق آن تمام ادارات امارتی و غیر امارتی می‌باشد.

٣. پرسش‌نامهٔ تشخیص و شناسایی مهارت‌های فنی و حرفوی مورد نیاز بازار کار! این پرسش‌نامه به هدف شناسایی حرفه‌های مورد نیاز بازار کار طرح و ترتیب گردیده است. ساحه‌ای تطبیق آن تشبثات کوچک، متوسط و بزرگ می‌باشد.

در مورد پرسش‌نامه‌های فوق به تمام اشتراک کننده‌گان به وجه احسن آن تشریح صورت گرفته و در رابطه به طرز انجام مصاحبه و خانه‌پری آن معلومات مفصل ارائه گردید. پروسهٔ جمع آوری ارقام و اطلاعات بعد از ختم ورکشاپ در مرکز توسط کارمندان ریاست مطالعهٔ بازار کار و در ۳۳ ولایت کشور توسط مدیران مطالعهٔ بازار کار و یکتن از کارمندان ریاست‌های کار و امور اجتماعی ولایات رسماً آغاز و ادامه دارد.

**روند جمع آوری ارقام و اطلاعات در مرکز!**

• شناسائی خدمات مورد نیاز: پروسهٔ جمع آوری ارقام و اطلاعات در رابطه به خدمات مورد نیاز، توسط وکلای گذر نواحی ۲۲ گانهٔ شهر کابل، ملکان قریه‌جات، بزرگان قوم و سایر نخبگان ۱۵ ولسوالی ولایت کابل تکمیل شده است که در این رابطه جمعاً با ۸۵۹ وکیل گذر، ملک قریه، بزرگ قوم و سایر نخبگان نواحی و ولسوالی‌های ولایت کابل مصاحبه صورت گرفته و پرسش‌نامه‌ها خانه‌پری گردیده است.

• شناسائی و تشخیص رشته‌های تحصیلی مورد نیاز بازار کار: پروسهٔ جمع آوری ارقام و اطلاعات پیرامون تشخیص رشته‌های تحصیلی مورد نیاز بازار کار از طریق مصاحبهٔ مستقیم با آمرین تمام ادارات امارتی صورت گرفته است که جمعاً به تعداد ۹۹۳ قطعه پرسش‌نامه خانه‌پری و جمع آوری گردیده است و هم‌چنان روند جمع آوری اطلاعات در رابطه به تشخیص رشته‌های تحصیلی مورد نیاز بازار کار از ادارات غیر امارتی با هم‌آهنگی وزارت محترم اقتصاد فعلاً جریان داشته و به پایهٔ اکمال نرسیده است.

• شناسائی مهارت‌های فنی و حرفوی مورد نیاز بازار کار: پروسهٔ جمع آوری ارقام و اطلاعات از تشبثات کوچک، متوسط و بزرگ جهت شناسایی مهارت‌های فنی و حرفوی مورد نیاز بازار کار اکنون روی دست قرار دارد و عنقریب آغاز خواهد گردید.

**پروسهٔ جمع‌آوری ارقام و اطلاعات از ولایات:**

کار مندان ریاست‌های کار و امور اجتماعی ولایات الی اکنون در بخش‌های سه گانهٔ پروسهٔ جمع آوری ارقام و اطلاعات فعالیت‌های ذیل را انجام داده اند:

• **شناسائی رشته‌های تحصیلی:** کارمندان اکنون با ١٨٦١ تن از آمرین ادارات امارتی مصاحبه انجام داده و پرسش‌نامه‌ها خانه‌پری گردیده است.

• **شناسائی خدمات مورد نیاز:** کارمندان تا اکنون با ۳۱۸۳ وکیل گذر، ملک قریه و اشخاص نخبه در رابطه به خدمات مورد نیاز شان مصاحبه انجام داده و پرسش‌نامه‌ها خانه‌پری گردیده است.

• **شناسائی مهارت‌های فنی و حرفوی مورد نیاز بازار کار:** کارمندان با مسؤلین ۹۹۶ تشبثات کوچک، متوسط و بزرگ مصاحبه انجام داده اند و پرسش‌نامه‌ها خانه‌پری گردیده است.

بعد از تکمیل پروسهٔ جمع آوری ارقام و اطلاعات از بخش‌های متذکره روند تحلیل روی ارقام و اطلاعات صورت می‌گیرد که نتایج بدست آمده آن جهت طرح برنامه‌ها و پالیسی‌های مؤثر اقتصادی و اجتماعی در اختیار تمام وزارت خانه‌ها، ادارات و سایر نهادها قرار خواهد گرفت.



# د فقهي حدودو او اسلامي اخلاقو په رڼا کې د ټولنیزو رسنیو کارونه

**څېړنه او راټولوونکی: کرامت الله فضلي**

د فقهي حدودو او اسلامي اخلاقو په رڼا کې د ټولنیزو رسنیو کارونه یوه خورا مهمه موضوع ده، چې په معاصره زمانه کې د مسلمانانو لپاره د پام وړ ده. د دې لیکنې په مطالعې سره نه یوازې د ټولنیزو رسنیو کارونه د فقهي حدودو او اسلامي اخلاقو اړوند مسایل څرګندوي، بلکې په دې اړه د مسلمانانو مسوولیتونه او حدود هم روښانوي.

**د ټولنیزو رسنیو پېژندنه**

**د ټولنیز تعریف:**

ټولنیز، د ټولنې څخه اخیستل شوې کلمه ده، چې ټولنه بیا د یوې ډلې خلکو ته ویل کېږي چې په ګډو ارزښتونو، اصولو او موخو سره ژوند کوي او ټولنیز د خلکو ترمنځ اړیکو ته ویل کېږي. په اصطلاح کې ټولنیز هغه څه ته ویل کېږي، چې د انسانانو ترمنځ د اړیکو، خبرو، مرستو، افهام او تفهیم په معنا چې د ګډ ژوند سره تړاو ولري، لکه: ټولنیزې اړیکې، ټولنیز اخلاق، ټولنیز مسوولیت.

**د رسنیو تعریف:**

رسنۍ د رسونې کلمې څخه اخیستل شوې ده، چې لغوي معنا یې وسیله، لاره او چېنل ده. یعنې هغه وسایل چې یو پیغام له یوه لوري څخه بل لوري ته لېږدوي. په اصطلاح کې هغه وسیلې دي، چې د معلوماتو، افکارو، خبرونو او پیغامونو د خپرولو لپاره کارول کېږي، لکه: راډیو، ټلویزیون، انټرنېټ، ورځپاڼې، مجلې او اوسنۍ ټولنیزې رسنۍ.

**د ټولنیزو رسنیو ترکیبي تعریف:** د فقهي حدودو او په اسلامي اخلاقو کې د ټولنیزو رسنیو کارول هغه احکام او لارښونې دي، چې د شریعت له مخې د ټولنیزو شبکو د کارونې لپاره ټاکل شوي دي. دا موضوع د دې لپاره اړینه ده چې مسلمانان څرنګه باید په ټولنیزو رسنیو کې د دیني اخلاقو د اصولو مطابق عمل وکړي، ترڅو د فرد او ټولنې لپاره ښې پایلې ترلاسه شي.

**د ټولنیزو رسنیو موضوع:**

**فقهي حدود:** د شریعت له نظره د ټولنیزو رسنیو د کارونې هغه حدود چې باید ور څخه تېری ونه کړي.

**اسلامي اخلاق:** مسلمانان باید د اسلامي اخلاقو پر بنسټ، په ټولنیزو رسنیو کې د رښتینولۍ او صداقت ملاتړ وکړي، له دروغو او فساد څخه ځان وساتي.

د ټولنیزو رسنیو تطابق د شریعت سره د هغو کارونو څېړنه ده، چې په ټولنیزو رسنیو کې د اسلام له نظره جواز لري او یا منع دي.

د فردي او ټولنیزو ارزښتونو پر بنسټ لارښونې: څرنګه ټولنیزې رسنۍ په یوه اسلامي ټولنه کې ارزښتونو ته وده ورکوي او یا له دې سره په ټکر کې وي؟

**د ټولنیزو رسنیو غرض او اهمیت:**

**د اسلامي اخلاقو پر بنسټ د ټولنیزو رسنیو کارول:**

په ټولنیزو رسنیو کې د شریعت د اصولو په پام کې نیول، لکه: له دروغو څخه پرهېز، د خلکو عزت ته درناوی، د فحشا او فساد څخه مخنیوی، د مسلمانانو له مهمو مسوولیتونو څخه دي. د مسلمانانو لپاره د دې موضوع پوهه هم اړینه ده ترڅو چې د فقهي اصولو پر بنسټ خپلې آنلاین کړنې اداره کړي. ځکه چې ټولنیزې رسنۍ د ښو ارشاداتو د تعلیم، د ښو اخلاقو د پراختیا او د فاسدو کارونو د مخنیوي لپاره یوه اړینه وسیله ګرځېدلی شي؛ نو د ټولنیزو رسنیو اهمیت په لاندې ډول دی:

- ټولنیزې رسنۍ د خلکو ترمنځ د چټکو اړیکو یوه اغېزمنه وسیله ده.
- خلک خپل نظرونه، احساسات او معلومات پکې شریکوي.
- تعلیمي، دیني، سیاسي، اقتصادي او تفریحي موضوعات پکې خپرېږي.
- د خلکو ترمنځ د یووالي، خواخوږۍ او همکارۍ فضا رامنځته کوي.
- سوداګري، کاروبار او کمپاینونه پکې پر مخ وړل کېږي.
- د ژر خبرتیا، اعلاناتو او ابلاغ لپاره یوه اغېزمنه لاره ده.
- د عامه پوهاوي، اصلاح او د دعوت یوه نوې لاره ده.

**د ټولنیزو رسنیو موخې:**

۱- اطلاع رسونه: خلکو ته پر وخت او آسانه معلومات رسول.

۲- اړیکې: د خلکو ترمنځ د انفرادي او ډله ییزو اړیکو د ټینګولو وسیله ده.

۳- تبلیغ: د سیاسي، مذهبي، سوداګریزو او نورو پیغامونو خپرول.

۴- دعوت او اصلاح: د اسلامي اخلاقو او ښو افکارو خپرول.

۵- تفریح: د خلکو د ذهني آرامتیا لپاره غوره منځپانګه ده.

٦- ښوونه او روزنه: د درسونو، کورسونو او بیانونو په څېر د علمي موادو شریکول او زده کول.

۷-د عامه افکارو جوړول: د ټولنیز بدلون لپاره د خلکو د ذهنیت جوړونه.

**د ټولنیزو رسنیو د کارولو په بهیر کې باید لاندې ټکو ته پاملرنه وشي:**

**د فقهي او دیني اصولو پر بنسټ:** د ټولنیزو رسنیو کارول باید د اسلامي شریعت په رڼا کې ترسره شي.

**د ټولنیزو اصولو رعایت:** د ټولنیزو رسنیو په کارولو کې باید ټولنیز عدالت، رښتینوالي او انصاف په پام کې ونیول شي.

**انساني کرامت:** ټولنیزې رسنۍ باید د انسان کرامت ته زیان ونه رسوي.

**له فساد څخه مخنیوی:** ټولنیزې رسنۍ باید د فساد د خپرېدو مخه ونیسي او هڅه وکړي چې فساد ته لاره هواره نه کړي.

**د ديني قوانينو سره سمون:** د ټولنيزو رسنيو کارول بايد د اسلامي لارښونو سره سم تضمين شي، لکه: د حجاب رعايت، د ښځو او نارينه‌وو حقوقو ته درناوی او د منفي اغېزو څخه مخنيوی.

**د ټولنيزو رسنيو د کاروني فقهي حدود او اسلامي اخلاق:**

مخکې له دې چې د ټولنيزو رسنيو د کاروني فقهي حدود او اسلامي اخلاق وڅېړو، دا مهمه ده چې پوه شو، ټولنيزې رسنۍ څه دي او ولې په اوسني دور کې دومره پراخه کارونه لري؟

ټولنيزې رسنۍ هغه وسيلې دي، چې د خلکو ترمنځ اړيکو ته وده ورکوي، معلومات او نظريات شريکوي او حتی د ژوند په بېلابېلو برخو کې بدلون راولي. دا وسايل له يوې خوا ډېرې ګټې لري، لکه: علمي پرمختګ، د ديني تعليماتو خپرول او د ټولنيزو اړيکو جوړول، خو له بلې خوا يې ناوړه کاروني هم ډېرې شوې دي، چې د اسلامي فقهي او اخلاقو سره په ټکر کې دي. په دې توګه د ټولنيزو رسنيو کارونه بايد د اسلامي اصولو په رڼا کې وي.

**د ټولنيزو رسنيو د کاروني فقهي حدود:**

ټولنيزې رسنۍ د اسلامي فقهي له مخې د اخلاقي اصولو او د انسانانو د حقوقو په پام کې نيولو سره وکارول شي. په اسلام کې د هر ډول ناوړه او حرام کار په ترسره کولو سره نه يوازې انسان، بلکې ټولنه هم زيانمنېږي. په دې توګه د ټولنيزو رسنيو په کارولو کې بايد ځينو فقهي حدودو ته پام وشي:

**د عزت او شخصيت ساتنه:** اسلام د خلکو عزت او شخصيت ته ډېر اهميت ورکوي. هر فرد مسووليت لري، چې د نورو خلکو عزت ته درناوی وکړي او هغوی ته زيان ونه رسوي. د ټولنيزو رسنيو  په کارولو کې بايد د خلکو عزت ته پام وشي او د بې احترامۍ، ناسمو خبرو او توهين څخه ډډه وشي. د اسلامي اخلاقو له مخې، که يوه څوک د بل شخص په اړه خبرې کوي، بايد هغه خبرې نېکې، ګټورې او اصلاحي وي. په حديث شريف کې راغلي دي، چې: «**من لا يشكر الناس، لا يشكر الله**» (سنن ابی داود) ژباړه: څوک چې د خلکو څخه مننه نه کوي، د الله تعالی شکر هم نه ادا  کوي. د دې حديث شريف څخه دا څرګندېږي، چې په ټولنيزو اړيکو کې بايد د شکر او اخلاقو ساتنه وشي، ځکه دا د اسلامي ژوند يوه مهمه برخه ده.

**د شريعت خلاف د محتوا خپرول:** ټولنيزې رسنۍ د بېلابېلو مواردو د خپرولو لپاره يوه قوي وسيله ده. په دې ځای کې د شريعت خلاف منځپانګې، لکه: فحشا د بد اخلاقۍ خپرول حرام دي.  نه يوازې دا چې د يوه فرد عزت ته زيان رسوي، بلکې ټولنه هم د بې لارۍ لور ته هڅوي. په دې توګه هر مسلمان مکلف دی، چې په ټولنيزو رسنيو کې د دې ډول محتوا د خپرولو څخه ډډه وکړي او خپلې کړنې د اسلامي اصولو په رڼا کې ترسره کړي.

**د دروغو او شايعاتو خپرول:** د ټولنيزو رسنيو يوه لويه ستونزه د دروغو او شايعاتو خپرول دي. اسلام په څرګنده توګه دروغ ويل حرام ګرځولي دي او د شريعت له نظره، دروغو ته لاره ورکول نه يوازې د خلکو، بلکې د ټولنې په منځ کې هم د بې‌اعتمادۍ فضاء رامنځته کوي. مسلمانان بايد په ټولنيزو رسنيو کې يوازې هغه معلومات شريک کړي، چې رښتيني او مستند وي.

**د محرميت ساتنه:** اسلام د خلکو شخصي ژوند ته ډېره پاملرنه لري. په دې توګه په ټولنيزو رسنيو کې بايد د خلکو شخصي معلومات خپاره نه شي. کارونکو ته پکار ده، چې د خپل شخصي ژوند او محرم معلومات د نورو له نظره پټ وساتي، ځکه دا کار نه يوازې د اسلامي فقهي اصولو سره په ټکر کې دی، بلکې د انسان د عزت، شخصي حريم او شرافت خلاف هم دی.

**د فحشا او فساد پر وړاندې مبارزه:** ټولنيزې رسنۍ بايد د مثبتو ارزښتونو، لکه: د اسلامي اخلاقو، نېکو کړنو او د بشري حقوقو د ساتنې لپاره وکارول شي. په دې توګه دا وسيله بايد د فحشا او فساد د پراختيا لپاره نه، بلکې د ټولنې د اصلاح او پراختيا لپاره وکارول شي. د ټولنيزو رسنيو له لارې مسلمانان کولای شي، چې ديني زده کړې ترلاسه او نورو خلکو ته د اسلامي حقيقتونو د ښوولو او تبليغ لپاره ګټه واخلي.

**د ټولنيزو رسنيو کاروني اسلامي اخلاق:** د اسلامي اخلاقو له اصولو څخه يو دا دی، چې د ټولنې په ګټه کار وشي. هر مسلمان بايد د ټولنيزو رسنيو د کاروني پر وخت کې اسلامي اخلاق او احکام په نظر کې ونيسي، ترڅو د الله تعالی رضا ترلاسه کړي. د ټولنيزو رسنيو د  کاروني لپاره ځينې مهم اسلامي اخلاق په لاندې ډول دي:

**صداقت او امانتداري:** د اسلامي اخلاقو له مهمو ارزښتونو څخه يو د صداقت او امانتدارۍ اصل دی. مسلمانان د ټولنيزو رسنيو په کارولو کې بايد د صداقت اصل وساتي او د نورو خلکو سره د امانتدارۍ په روحيه چلند وکړي. دا په دې معنا ده، چې هر مسلمان بايد په دې وسايلو کې دروغ او چل و نه کاروي، بلکې خپلې کړنې د رښتينولۍ، صداقت او اخلاص پر بنسټ ترسره کړي. «عَنْ أَبي ذَرٍّ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ لي رَسُولُ اللَّهِ ﷺقُلِ الْحَقَّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا». (مسند احمدبن حَنبل) ژباړه: ابوذر رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی علیه وسلم ماته وويل: حق ووايه، که څه هم تريخ وي.

**د عفت ساتنه:** اسلام د عفت، عزت او غيرت دين دی، په ځانګړې توګه د ښځو د عزت او حجاب د ساتلو په اړه. په ټولنيزو رسنيو کې د ښځو د بې‌حجابۍ او فحشا خپرول د اسلام له نظره جواز نه لري او د دې ډول مواردو خپرول يا خلکو ته يې انګېزه ورکول حرام دي. د دې وسايلو له لارې بايد د شرعي قوانينو، لکه: حجاب، عفت او پاکوالي پيغام ته پراختيا ورکړل شي. هغه خپرونې او انځورونه چې د بې حجابۍ او فحشا لپاره لارې پرانېزي، بندې شي. مسلمانان بايد د خپل عفت ساتنه وکړي او په ټولنيزو رسنيو کې د حجاب او اخلاقو په رعايت کې جدي پاملرنه وکړي.

**يو بل ته درناوی:** يو بل ته درناوی د اسلامي اخلاقو يو مهم اړخ دی. په ټولنيزو رسنيو کې بايد د نورو خلکو افکارو، نظرياتو او شخصيت ته درناوی وشي او په کار ده، چې په هر ډول بحثونو او خبرو کې د نورو د عقايدو، نظرياتو او شخصيت ته د زيان رسولو څخه ډډه وشي. حديث شريف دی، «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ» (صحيح مسلم) ژباړه: ستاسې هېڅ يو به بشپړ مؤمن نه وي، تر څو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ نه کړي چې د خپل ځان لپاره يې خوښوي. د دې حديث شريف څخه دا څرګندېږي، چې رښتينی مؤمن هغه څوک دی چې د نورو د ښېګڼې او نېکمرغۍ هيله همدومره کوي لکه د خپل ځان.

**د فتنې څخه مخنيوی:** اسلام په ټولو حالاتو کې د فتنې جوړول او خپرول منع کړي دي. فتنه هغه حالت ته ويل کېږي، چې په کې خلک يو بل ته زيان رسوي او په ټولنه کې ګډوډۍ رامنځته کوي. د ټولنيزو رسنيو په کارولو کې د فتنې خپرول جواز نه لري. مسلمانان بايد د دې وسايلو په کارولو کې يوازې د هغو مطالبو د

شریکولو لپاره وکاروي چې د اسلامي اصولو سره سم د ټولنې د خیر او اصلاح سبب وګرځي.

**د خلکو د حقوقو ساتنه:** په اسلام کې د نورو خلکو د حقوقو درناوی اړین دی. مسلمانان باید د ټولنیزو رسنیو په کارولو کې د نورو خلکو د حقوقو ساتنې ته جدي پاملرنه وکړي. د ټولنیزو رسنیو کارولو پر مهال باید د نورو کسانو محرمیت، عزت او شتمنیو ته درناوی وشي. د هغو شخصي معلوماتو، خبرو او انځورونو د خپرولو څخه ډډه وکړي، چې عزت ته زیان رسوي.

**د ټولنیزو رسنیو د کارونې اسلامي اصول، پراختیا او محدودیتونه:** ټولنیزې رسنۍ د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د ښوونیزو، دیني او ټولنیزو فعالیتونو د پراختیا لپاره یو مناسب ډګر ګڼل کېږي. که څه هم دغه وسیله د ځینو ناسمو موخو لپاره هم کارول کېږي، خو مسلمانان یې باید د دیني احکامو، فقهي حدودو او اسلامي اخلاقو له اصولو سر سم وکاروي، تر څو د دې وسیلې ګټې زیاتې او زیانونه یې راکم شي. حدیث شریف کې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې: «بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً» (صحیح البخاري)

ژباړه: زما پیغام خلکو ته ورسوئ، که څه هم یو ایت وي. ټولنیزې رسنۍ د اخلاقو د ښوونې او روزنې یوه پیاوړې وسیله ده. مسلمانان باید له دې وسیلې څخه د نېکۍ، صداقت، شجاعت او نورو سترو اسلامي اخلاقو او ارزښتونو د خپرېدو او پراختیا لپاره ګټه واخلي. دلته موږ د ټولنیزو رسنیو د پراختیا او ګټورې استفادې لپاره څو کلیدي اسلامي اصول تاسو ته وړاندې کوو:

**د دې وسیلې مثبت کارونه:** ټولنیزې رسنۍ باید د ټولنې د اصلاح او د سولې د پراختیا وسیله وي. مسلمانان ټولنیزې رسنۍ د علم پراختیا، د اسلامي ارزښتونو د ښوونې او روزنې د خپرولو لپاره وکاروي. په همدې توګه د دې وسیلې څخه باید د اسلام د ښېګڼو او د بشریت د ګټې لپاره ترسره شي.

**د دیني مسایلو او اسلامي اخلاقو د ښوونې لپاره:** ټولنیزې رسنۍ د دیني موضوعاتو، قرآنکریم، حدیثونو او اسلامي اخلاقو د پوهاوي او پراختیا لپاره یوه مهمه وسیله ګرځېدلې ده. مسلمانان کولای شي د ټولنیزو رسنیو له لارې په خپلو ټولنو کې د اسلام مبارک دین د حقیقي پیغام د خپرولو لپاره پراخه شبکه جوړه کړي. خپل دیني پیغامونه، تعلیمي مواد، قرآنکریم او حدیثونه نړۍ ته وړاندې کړي. د دې وسیلې د کارولو غوره موخه باید د اسلامي اخلاقو او دیني تعلیماتو پراختیا وي.

**د ګډوډۍ او فتنې مخنیوی:** اسلام د ګډوډۍ، فساد او فتنې پر وړاندې د ټولنې ساتنه کوي. مسلمانانو ته پکار ده، چې په ټولنیزو رسنیو کې د خپلو خپرونو له لارې د بدو نظریاتو، دروغو او تفرقه اچوونکو پیغامونو مخه ونیسي. په دې رسنیو کې باید د اسلام مبارک دین رښتینې څېره او حقیقي پیغام چې د سولې، یووالي او ورورولۍ څرګندونه کوي، خپور شي. تر څو خلک د ورورولۍ او همکارۍ روحیې ته وهڅول شي او مسلمانان باید هڅه وکړي، چې د ټولنیزو رسنیو له لارې د مثبتو نظریاتو او سالم فکر د پراختیا له لارې یوه ګډه، پیاوړې او پر نېکو اخلاقو سمبال ټولنه رامنځته کړي.

**د کارونې موخه روښانه او نېکه وي:** په اسلام کې هره کړنه هغه وخت د ثواب په تله کې شمېرل کېږي، چې د الله تعالی د رضا او خوښۍ لپاره ترسره شي. ټولنیزې رسنۍ هم باید د همدې اصولو پر بنسټ وکارول شي. که ټولنیزې رسنۍ د الله تعالی د رضا لپاره وکارول شي، لکه: د علم خپرولو، د ښو اخلاقو پراختیا او نورې مثبتې اغېزې؛ نو دا کړنې به الله تعالی د رضا او د اخرت د أجر سبب وګرځي.

**د ټولو مسلمانانو د همکارۍ او یووالي هڅونه:** د ټولنیزو رسنیو د کارولو یوه بله مهمه ګټه دا ده، چې مسلمانان کولای شي خپل علم او تجربې له یو بل سره شریکې کړي. ټولنیزې رسنۍ کولای شي، چې د اسلامي وحدت او همکارۍ لپاره یوه ډېره ګټوره وسیله وي. مسلمانان باید د دې وسیلې په کارولو کې د خپلو مسلمانو ورونو سره اړیکې ټینګې کړي، د ستونزو په حل کې یو بل سر مرسته وکړي، د اسلامي اخوت او یووالي د پراختیا لپاره هڅه وکړي او د ټولنې ترمنځ د همغږۍ او ټینګښت فضا رامنځته کړي.

**د افراط او تفریط څخه مخنیوی:** د اسلام مبارک دین د منځلارۍ او توازن دین دی. ټولنیزې رسنۍ هم باید په توازن سره وکارول شي. په دې وسیله کې باید افراط ونه‌کړو، ځکه دا کار د وخت د ضایع کېدو او بېلابېلو غیر ضروري فعالیتونو د ښکېلتیا سبب ګرځي. او نه هم تفریط وکړو، بلکې په هره موضوع کې منځنۍ لاره غوره کړو او ټولنیزې رسنۍ په تعادل او عقلانیت سره وکاروو.

**د ماشومانو او ځوانانو د ساتنې لپاره ګامونه پورته شي:** ټولنیزې رسنۍ د ماشومانو او ځوانانو لپاره مثبتې او منفي اغېزې لري؛ نو مسلمانان باید د خپلو ماشومانو او ځوانانو د پاملرنې په برخه کې فعاله ونډه ولري، تر څو هغوی د بې ځایه موادو یا د بې‌حیایۍ سره مخامخ نه شي. د دې وسیلې څخه د ماشومانو او ځوانانو د سمې کارونې لپاره باید ځانګړي قوانین او لارښوونې جوړې شي او د هغوی کړنې د اخلاقو او اسلامي اصولو سره سم وڅارل شي.

**د اسلامي اخلاقو پراختیا او انسانیت ته خدمت:** اسلام د انسانیت او خدمت دین دی. مسلمانان باید ټولنیزې رسنۍ د نورو خلکو د اخلاقو په ښه کولو، د هغوی د رواني او فزیکي روغتیا او د ټولنې د هوساینې لپاره وکاروي. ځکه چې په دې اړه یو حدیث شریف هم راغلی دی: «خير الناس أنفعهم للناس» (رواه الطبراني)

ژباړه: ښه خلک هغه دي، چې نورو ته تر ټولو ډېره ګټه رسوي.

**پایله**

د اسلامي فقهې په رڼا کې ټولنیزې رسنۍ باید د انسانانو د عزت ساتلو، د شریعت خلاف عملونو د مخنیوي او د مثبتو اخلاقو د پراختیا لپاره وکارول شي. مسلمانان باید د دې وسیلې په کارولو کې د الله تعالی رضا، د نورو د حقوقو درناوی او د اسلامي اصولو په پام کې نیولو سره کړنې ترسره کړي، چې په دې صورت کې ټولنیزې رسنۍ د ټولنې لپاره یوه ګټوره وسیله ګرځي.

د ټولنیزو رسنیو کارونه په اوسني عصر کې د ټولنې د اړیکو او فرهنګي پرمختګ لپاره یوه ځانګړې وسیله ګرځېدلې ده. که څه هم دغه وسیله د منفي کارونو، فساد او فحشا لپاره هم کارول کېږي، خو که مسلمانان د دې وسیلې د کارونې پر مهال اسلامي اصول، فقهي حدود او اخلاقي روزنې مراعات کړي؛ نو دا وسیله کولای شي د دیني علومو، اسلامي اخلاقو او د انسانیت د پرمختګ لپاره یوه ځواکمنه وسیله شي. د دې لپاره اړینه ده، چې مسلمانان د دې وسیلې په کارولو کې د الله تعالی د رضا او د اخرت د سوکالۍ په پام کې نیولو سره کړنې ترسره کړي. په ټوله کې، د ټولنیزو رسنیو کارونې فقهي حدود او اسلامي اخلاق د مسلمانانو لپاره یو اړین اړخ دی، چې باید د شریعت له نظره په سمه توګه عملي شي.



# د کار او ټولنیزو چارو وزارت د انسټیټوټ له رئیس سره

# مرکه

مرکه کوونکی: میثم نظری

د کار او ټولنیزو چارو وزارت یو له هغو مهمو دولتي بنسټونو څخه دی، چې د افغانستان د مسلکي کاري ځواک وده او د کار بازار د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره د ماهرو او مسلکي کسانو روزنه پر غاړه لري. په همدې موخه د کار او ټولنیزو چارو وزارت انسټیټوټ د یوه کلیدي ریاست په توګه شمېرل کېږي، چې د دولتي کارکوونکو د ظرفیت لوړونې او د مسلکي او تخصصي زده کړیالانو په روزنه کې مهمه ونډه لري. موږ د کار او اجتماع مجلې په دې ګڼه کې د انسټیټوټ له رئیس ښاغلي شریف الله شرافت سره مرکه کړې او له نوموړي څخه مو یو لړ پوښتنې کړې دي، ترڅو د خپلو فعالیتونو په اړه معلومات راکړي. یوه نړۍ مننه، ښاغلی رئیس صاحب چې موږ ته مو وخت راکړ!

**پوښتنه:** لومړی تاسو مهرباني وکړئ د کار او ټولنیزو چارو وزارت د انسټیټوټ په اړه زموږ لوستونکو ته معلومات وړاندې کړئ؟

**ځواب:** بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ العَالَمِينَ وَالصَّلاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى أَشْرَفِ الأنبياءِ وَالْمُرْسَلِينَ سَيِّدِنَا وَمَوْلَنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِيْنَ, أَمَّا بَعْدُ.

په درناوي سره غواړم ووایم، چې دا انسټیټوټ د افغانستان په کچه یو ښوونیز، څېړنیز او معتبر بنسټ دی، چې د امارتي او غیر امارتي ادارو د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو، د ښوونکو او کار زده کوونکو د روزنې، د بېلابېلو برخو د فني او حرفوي روزنیزو مرکزونو لپاره د روزنیزو نصابونو تدوین، بیا کتنې او پراختیا په برخو کې فعالیت کوي. دا انسټیټوټ د کار او ټولنیزو چارو په برخه کې علمي څېړنې ترسره کوي، چې د بشري پانګې پیاوړتیا او د هېواد په اقتصادي او ټولنیز پرمختګ کې مهم رول لوبوي.

**پوښتنه:** د انسټیټوټ ریاست څه وخت رامنځته شو او اساسي موخې یې څه دي؟

**ځواب:** مننه! د کار او ټولنیزو چارو وزارت انسټیټوټ د ۱۴۰۲ هـ ش کال په تشکیل کې رامنځته شو، چې لاندې بنسټیزې موخې لري:

- د هېواد په کچه د ظرفیت لوړولو پروګرامونو د پلي کولو له لارې د متخصص کاري ځواکوده او مسلکي کول؛
- د علمي او عملي مهارتونو د لوړولو لپاره د استادانو او روزونکو د تدریسي چارو وده او پراختیا؛
- د روزنیزو پروګرامونو د اغېزمن پلي کولو لپاره د روزنیز نصاب تدوین، بیا کتنه او پراختیا؛
- د هېواد په کچه د کار او ټولنیزو چارو په برخه کې د علمي څېړنو او مطالعاتو ترسره کول.

**پوښتنه:** دا ریاست د پیل څخه تر اوسه پورې د کاري ځواک د ودې لپاره کوم فعالیتونه او لاسته راوړنې لري؟

**ځواب:** اجازه راکړئ چې په دې اړه یو څه زیات وضاحت درکړم، په پیل کې د دغه انستیټوټ ریاست د څلورو مهمو آمریتونو (د روزنیزو نصابونو پراختیا او تأیید، د ظرفیتونو لوړولو او له نورو انستیټوټونو سره د همغږۍ، تدریسي او حرفوي کسانو د قابلیتونو تثبیت) په لرلو سره په کار پیل وکړ، چې وروسته د ۱۴۰۴ هـ ش کال په تشکیل کې د انستیټوټ ریاست، د حرفوي کسانو د قابلیتونو د تثبیت آمریت ریاست ته ارتقا وکړه او موږ ته د علمي مطالعاتو آمریت په تشکیل کې اضافه شو، چې اوسمهال د څلورو مهمو برخو په لرلو سره لاندې لاسته راوړنې لرو:

**د نصابونو د پراختیا په برخه کې:**

د فني او حرفوي روزنیزو مرکزونو د (۱۱) نویو حرفو لپاره مو شغلي مهارتونه، ملي معیارونه او نصابونه د ښوونکو او حرفوي کسانو په مرسته جوړ کړل او همدارنګه د فني او حرفوي زده کړو لپاره د هغو (۳) نصابونو بیا کتنه ترسره شوه، چې په تېرو کلونو کې جوړ شوي وو. د انستیټوټ د تدریسي او ظرفیت لوړولو پروګرامونو لپاره مو (۶) عنوانه روزنیز نصابونه د پوهنتونونو د استادانو او د علومو اکاډمۍ د محققینو په مرسته جوړ کړي دي، چې په دې نصابونو کې (۵۶) روزنیزې برنامې شاملې دي. د فني او حرفوي زده کړو روزنیز نصابونه مو د مرکز او ولایتونو تقریباً ټولو روزنیزو مرکزونو ته د هغوی د غوښتنې پر اساس استولي دي، چې اوس عملاً د همدې نصابونو پر بنسټ زده کړې ترسره کېږي.

هېره دې نه وي، چې د پورته نصابونو د تدوین، بیا کتنې او پراختیا لپاره مو جامع لارښود هم جوړ کړی، چې د وزارت له محترم مقام لخوا منل شوی دی.

**د ښوونکو د تدریسي چارو د پراختیا په برخه کې:**

په (۳۳) روزنیزو پروګرامونو کې د (۱۱۷۴) تنو ښوونکو، روزونکو او مربیانو د تدریسي چارو د پراختیا لپاره روزنیز پروګرامونه پلی شوي، چې پکې د ښلابېلو امارتي ادارو کارکوونکو ته د کار اړوندو تقنیني اسنادو پوهاوی ورکړل شوی دی او د ښوونکو د تدریسي چارو د پراختیا برخې لپاره د روزنیزو نصابونو مطابق (۷) عنوانه روزنیز مواد د معتبرو سرچینو پر بنسټ جوړ کړي دي.

همدارنګه د امارتي او خصوصي پوهنتونونو لسګونه محصلین مو د وزارت اړوندو ریاستونو ته د عملي کار زده کړو لپاره معرفي کړي دي او هم د (۱۰۰) کسانو لپاره مو یوه مجهزه لیلیه فعاله کړې، تر څو د امارتي ادارو هغه کارکوونکي چې د روزنیزو برنامو لپاره مرکز ته راغوښتل کېږي، ترڅو په کې هستوګنه وکړي.

**د ظرفیتونو د لوړولو په برخه کې:**

د کارکوونکو د وړتیاوو د لوړولو په برخه کې مو د (۴۲۵۶) تنو امارتي ادارو کارکوونکو د روزنیزو اړتیاوو ارزونه ترسره کړې او د همدې ارزونې پر بنسټ مو د (۲۰۸۵) تنو امارتي کارکوونکو ته په (۶۱) روزنیزو برنامو کې د ظرفیت لوړولو پروګرامونه پلي کړي دي. د پروګرامونو د پلي کولو لپاره مو د نویو او معتبرو سرچینو څخه په ګټې اخیستنې سره (۸) عنوانه روزنیز مواد ترتیب او نهایي کړي دي.

په همدې توګه مو له ښلابېلو پوهنتونونو او تحصیلي بنسټونو سره د همغږۍ ناستې لرلې دي، چې په ترڅ کې مو له دوو پوهنتونونو سره د همکارۍ تړونونه هم لاسلیک کړي دي. اوسمهال مو د کار او ټولنیزو چارو وزارت (۲۰۷) تنه کارکوونکي امارتي او خصوصي پوهنتونونو ته د لېسانس او ماسترۍ برنامو لپاره معرفي کړي دي.

**د علمي مطالعاتو په برخه کې:**

په دې برخه کې موږ اوسمهال دوې څېړنې(د ملک په کچه د بې سرپرستو ماشومانو شمېر او د فني او حرفوي زده کړو په پلي کولو کې فرصتونه او ستونزې) تر لاس لاندې لرو، چې د کال تر پایه به یې ان شاء الله راپور چمتو کړو او همدارنګه مو د علمي مطالعاتو د عملي چارو د ترسره کولو لپاره یو جامع لارښود هم برابر کړی دی.

**پوښتنه:** د دې انستیټوټ د کارکوونکو د ظرفیت لوړونو او زده کړو چارې څرنګه تنظیم او پلي کېږي؟

**ځواب:** د دې پوښتنې د اهمیت له مخې غواړم یو څه تخنیکي وضاحت وړاندې کړم، هغه دا چې د کلني پلان او روزنیز نصاب سره سم د ظرفیت لوړولو، روزنیزو پروګرامونو وړاندې کولو او پلي کولو پروسه په لاندې ډول ترسره کېږي:

په لومړي سر کې د امارتي ادارو د کارکوونکو د روزنیزو اړتیاوو ارزونه (د فورمونو وېشلو، مرکې او تحلیل شویو مشاهدو)له لارې ترسره کېږي.

په دوهیم پړاو کې د پروګرام برابرول دي(د روزنیزو اړتیاوو د ارزونې له پایلو څخه استفاده کېږي، چې د روزنیزې برنامې لپاره روزنیز مواد، منولونه او سلایډونه جوړېږي. وروسته د روزنې پلان چمتو کېږي).

په دریېم پړاو کې همغږي ترسره کېږي.

وروسته بیا پروګرام پلي کېږي( د پروګرام د پلي کولو لپاره یو ځانګړی روزونکی د یو تسهیل کوونکي سره معرفي کېږي چې پکې د مختلفو تدریسي میتودونو، لکه: نظري، عملي، څېړنیز او نورو عصري تدریسي طریقو څخه کار اخیستل کېږي).

په پای کې ارزونه او د ارزونې پایلې چمتو کېږي(د پروګرام په پیل او د پروګرام له پای وروسته ارزونې ترسره کېږي، ترڅو د کارکوونکو د پوهاوي کچه وپېژندل شي. همدارنګه د پروګرام له پای څخه وروسته ارزونه د پروګرام د اغېزمنتوب او د تصدیق پاڼو د وېش لپاره ترسره کېږي).

د یادولو وړ یې بولم، چې موږ ځانګړي پروګرامونه هم پلي کوو(دا پروګرامونه د وزارت محترم مقام د لزوم دید او د نورو ادارو د غوښتنو پر بنسټ تنظیمېږي).

**پوښتنه:** د دې ریاست برنامې یوازې د کار او ټولنیزو چارو وزارت د کارکونکو لپاره دي او که د ټولو امارتي ادارو د کوونکو لپاره؟

**ځواب:** د انستیټوټ پروګرامونه ټول امارتي او غیر امارتي کارکوونکي تر پوښښ لاندې راولي. دا پروګرامونه د کارکوونکو ځانګړو ډلو لپاره چمتو شوي دي، لکه: اداري او مدیریتي، تدریسي، د تقنیني اسنادو د پوهاوي، کمپیوټر او تخصصي پروګرامونه.

**پوښتنه:** ستاسو په نظر د امارتي بنسټونو کارکوونکي د ظرفیت لوړونې برنامو ته تر کومې کچې پورې اړتیا لري؟

**ځواب:** په اوسني عصر کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول د بریالیو ادارو یو له بنسټیزو اړتیاوو څخه شمېرل کېږي. له همدې امله، د امارتي او غیر امارتي ادارو کارکوونکي اړتیا لري چې خپل معلومات تازه کړي، ترڅو د دوی اداري فعالي او په پایله کې د خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې غوره والی راشي.

**پوښتنه:** د دې انستیټوټ ښوونیزې برنامې کومو ځانګو ته ډېره پاملرنه لري؟

**ځواب:** مننه! د انستیټوټ روزنیز پروګرامونه د ټولو ادارو د اړینو برخو، لکه: اداري، مدیریتي، تخصصي، د کار پورې اړوندو تقنیني اسنادو، ښوونکو، روزونکو او نوې ټکنالوجۍ د پروګرامونو د پوښښ لپاره تنظیم شوي دي.

**پوښتنه:** په ښونیزو برنامو د ګډون لپاره کارکوونکي باید په کومو شرایطو برابر وي؟

**ځواب:** کور ودان! د کار او ټولنیزو چارو وزارت د انستیټوټ ریاست د روزنیزو پروګرامونو ګډونوال باید د امارتي یا غیر امارتي ادارو کارکوونکي وي. په رسمي توګه معرفي او د روزنیزو اړتیاوو ارزونه یې ترسره شوې وي. البته هغه کارکوونکي چې د خپلو ادارو لخوا په ټول شموله یا ځانګړو پروګرامونو کې انستیټوټ ته معرفي کېږي، دوی د روزنیزو اړتیاوو ارزونې پروسې ته اړتیا نه لري.

**پوښتنه:** د انستیټوټ ښوونیزې برنامې تر کومې کچې د کار په بازار کې ونډه لري؟

**ځواب:** د کار په بازار کې د انستیټوټ روزنیز پروګرامونه د کاري ځواک مدیریتي مهارتونه پیاوړي کوي، د هغوی نظري او عملي پوهه زیاتوي، د پټې بېکارۍ څخه مخنیوی کوي، مدیران په مسلکي توګه د کار په بازار کې فعالیت کوي، د خپلو او ادارو له حقوقو او مکلفیتونو څخه خبر وي. همدارنګه په روزنیزو پروګرامونو کې د روزنې وروسته افراد کولای شي، چې په اغېزمنه توګه د پېردونکو پام ځانته راواړوي، چې په پایله کې د کار په بازار کې کاري ځواک پیاوړی کېږي.

**پوښتنه:** د زده کړو په نویو تګلارو او نوښتونو باندې څومره کار شوی دی؟

**ځواب:** د انستیټوټ ښوونکي او مسلکي کارکوونکي تل هڅه کوي، چې د معیاري نصابونو او معتبرو روزنیزو موادو له لارې د زده کړو فرصتونه چمتو کړي. یاد روزنیز مواد د باوري سرچینو څخه راټولیږي او ګډونوالو ته یې وړاندې کوي.

پر همدې اساس په بېلابېلو برخو کې د زده کړې میتودونو عصري کولو لپاره ډېر کار شوی دی، ترڅو روزنه د مختلفو نویو مېتودونو په مرسته ترسره شي، چې د هغې له ډلې څخه د روزنیزو پروګرامونو معیاري کول، د پروګرامونو په ډله بندي، د روزنیزو موادو بیاکتنه او معیاري کول، فعال او ګډون کوونکي تدریسي، د نوې ټکنالوجۍ، رغنده او نوښتګر مېتودونه د یادولو وړ دي.

**پوښتنه:** دا انستیټوټ د کومو معیارونو او میکانېزمونو په نظر کې نیولو سره کارکوونکو ته د ښوونې او روزنې په برخه کې برنامې جوړوي؟

**ځواب:** د انستیټوټ روزنیز پروګرامونه د یو روزنیز دوران په ډول د نصاب سره سم پیل کېږي. لومړی د روزنیزو اړتیاوو ارزونه ترسره کېږي او پر همدې بنسټ د روزنې پلان چمتو کېږي وروسته د مشخصو روزنیزو مېتودونو په غوره کولو سره پروګرامونه پلي کېږي او د روزنې په پای کې ګډونوال ارزول کېږي او پایلې اعلانېږي.

**پوښتنه:** آیا تاسو له کومو کورنیو او بهرنیو سازمانونو یا بنسټونو سره همکاري لرئ؟ که هو، په کومو برخو کې؟

**ځواب:** هو! له کورنیو اکاډمیکو ادارو( امارتي او خصوصي پوهنتونونو) او بهرنیو بنسټونو سره د نصاب پراختیا، بیاکتنې، علمي څېړنو، د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو، لنډمهاله روزنې د محصلینو لپاره د کار مخکې روزنې، د لېسانس او فوق لېسانس برنامو ته د کارکوونکو معرفي کول او د مربیانو، ښوونکو او روزونکو د روزنې په برخو کې همکاري لرو.

**پوښتنه:** که په پای کې تاسو موږ ته د انستیټوټ د راتلونکو برنامو او موخو په اړه وواياست؟

**ځواب:** په پای کې زه غواړم روښانه کړم چې دا انستیټوټ د کیفیت او معیاري روزنې (نظري، عملي او څېړنیز) له لارې د مسلکي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره د ماهر او متحد کاري ځواک د ودې، د امارتي او غیر امارتي ادارو کارکوونکو لپاره اړین مهارتونه او په راتلونکي کې د دوامداره کارموندنې فرصتونو رامنځته کولو لپاره جامع او عملي طرحې لري.

دا انستیټوټ د مسلکي روزنې سیستم په ګټوره توګه اداره کولو باندې هم تمرکز کوي، ترڅو بشري مهارتونه رامنځته کړي، د کاري ځواک کیفیت ښه کړي، سرچینې په سمه توګه وکاروي او د امارتي او غیر امارتي ادارو د کارکوونکو اړتیاوو د پوره کولو لپاره یو اغېزمن چاپېریال رامنځته کړي. موږ قوي هوډ لرو، چې په راتلونکي کې به دا انستیټوټ په ملي کچه د یوه علمي، روزنیز او څېړنیز مرکز په توګه وپېژندل شي.

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د انستیټوټ رئیس صاحب ډېره مننه کوم، چې موږ ته مو وخت او فرصت راکړ.

له تاسو څخه هم مننه کوم، کور مو ودان. **والسلام**

# د ښې وینا کولو ۸ رازونه

«وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا» اَلبقره: ۸۳
خلکو ته ښې خبرې وکړئ.

ژباړه : محب الله ـ آرمل

زموږ په کورنۍ او دودیزه ماشوم روزنه کې یو شمېر ستونزې موجودې دي. چې آن په ښوونځیو کې هم لیدل کېږي، په کورنیو کې پر ماشوم په زوره چیغې وهل، د هغه خبرې بې گټې او بې معنا بلل، په مجلس کې ماشوم ته د خبرو اجازه نه ورکول او د کورنیو د مشرانو له خوا ورته دا نصیحت کول چې په مجلس کې باید چپ کینئ، خبرې ونه کړئ. د ماشوم د جرائت ماتې نړوي او د وینا هنر یې زیانمنېږي، بلخوا زموږ په معارف او د تدریس په موجوده نظام کې هم نیمگړتیاوې شته، له ښوونکو سره د ماشوم د جرائت روزلو روحیه او فکر نشته، په ناسم ځواب شاگرد تهدیدېږي او که یې د ټولگي مخکې کومه خبره د ښوونکي د توقع خلاف وکړه مسخره کېږي د ټوکو وړ گرځي، دغه ډول چلند د انسان جرائت وژني چې آن په لوینې کې هم د ښې وینا کولو وړتیا له لاسه ورکوي او نه توانېږي چې درېځ ته پورته شي، له درېځ او وینا سره خپل ماشومتوب او د هغه وخت خاطرې وریادېږي او له وینا یې زړه چوي، که چېرې تاسې هم له ورته ستونزو سره مخ یاست، یا ښه وینا نه شی کولای لاندې اته لارښوونې د ښې وینا کولو لپاره مرسته درسره کولای شي:

**۱ ـ تمرین، تمرین او تمرین**

د ویناوال یوه ستره اندېښنه دا وي، چې اورېدونکي یې غږ څنگه اوري. د دې اندېښنې د حل ښه لاره تر وینا کولو مخکې تمرین دی.

څومره چې خپله وینا په لوړ غږ تمرین کوي، په هماغه اندازه د خپلې وینا د معنا او محتوا په عیبونو پوهېږئ او همداراز د خپل غږ زیر او بم، جگوالي او ټیټوالي ته پام کېږي او درک یې ورته معلومېږي چې څنگه وینا وکړي.

د ښې وینا لپاره دا هم یوه لاره کېدای شي، چې له خپل ځان څخه ویډیو وکړئ او بیا یې وگورئ، تر څو د خپل ضعف ټکي لا ښه درته معلوم شي، هغه نمیگړتیاوې

چې ستاسې د تمرکز د خرابېدو، اضطراب او اندېښنې لامل کېږي مشخصې کړئ او د تمرین په مرسته یې له منځه یوسئ.

**۲ ـ تر وینا مخکې فزیکي تمرین وکړئ**

فزیکي تمرین هغه څه دي چې ستاسې په وجود کې د خوشحالۍ هورمون د تولید سبب ګرځي، په نفس مو باور ورسره ښه کېږي او د ښې وینا لپاره عصبي انرژي درکوي، کله چې دربځ ته درېږی ښه ده چې د پښو په ګوتو فشار راوړی او متحرکې یې وساتئ، تر څو هغه اندروفین چې د وینا پر مهال ستاسې په وجود کې پیدا کېږي له منځ لاړ شي.

تر وینا مخکې ستونی صاف کړئ، خبرې وکړئ چې ستاسې ژبه د خبرو لپاره چمتو ده او کنه؟ ډېری وخت ژبه هم د ګرمولو او آماده کولو لپاره اړتیا لري، د وینا محتوا مو له ځان سره تکرار کړئ.

**۳ ـ ماغزه تازه کړئ**

ډاکټر هربرټ بنسون په دې باور دی، چې وېره یا ډار بدن یو ډول غیر نارمل حالت ته بیایي او د وینا لپاره ستونزه جوړولای شي، په دغسې حالت کې د لاندې فزیکي تمرینونو په مرسته خپل اعصاب آرام کړئ:

**یو ـ ځان آرام کړئ؛**

**دوه ـ په معنا لرونکو کلمو او عبارتونو خپل ذهن بوخت کړئ؛**

**درې ـ لنډه چوپتیا غوره کړئ؛**

**څلور ـ ژوره ساه واخلئ:** ژوره ساه اخیستل ماغزه تازه کوي، د سترګو پټول او د څلورو یا پنځو ثانیو لپاره ژوره ساه اخیستل، مغز ته دمه ورکول او چوپتیا غوره کول، ستاسې د تمرکز د ښه کېدو لامل کېږي او په نفس مو باور لوړېږي. کله چې وینا کوئ تر وینا مخکې ۲۰ ځلې ژوره ساه واخلئ، تر څو ستاسې اعصاب آرام شي او وېره مو له منځه لاړه شي.

**۴ ـ د بریا په اړه فکر وکړئ**

د ځینو کسانو جرائت چې کمزوری وي او دربځ ته درېږي، خوله یې راځي، جملې او خبرې ترې هېرېږي، پښې یې سستې کوي او اکثره وخت له تمرین او آماده ګۍ سره سره هم له یادې ستونزې سره لاس او ګرېوان وي، د دغې ستونزې د حل لپاره غوره ده، چې د ډار کمولو او د جرائت زیاتولو له هنرونو څخه کار واخلئ.

د دغسې اوږد مهاله ډار د کمولو او د جرائت زیاتولو یو طلایي راز د بریا په اړه فکر کول دي، د دې پر ځای چې پر دربځ د ناکامۍ په اړه فکر کوئ، ښه دا ده چې د بریا او خپلې وړتیا په اړه فکر وکړئ، ځان ته په غټه سترګه وګورئ، خپلې خبرې مهمې فرض کړئ او دا فکر وکړئ چې اورېدونکي درته متوجه دي او ستاسې له خبرو څخه خوند اخلي، د دربځ په سر ځان لوی فرض کړئ او د ځان درناوی پخپله وکړئ.

وینا کول مو نه وژني، هغه کسان چې تاسې ته ناست دي، منتظر دي چې تاسې خپله وینا ور واورئ؛ نو پر ځای د دې چې منفي فکر کوئ خپله ټوله انرژي په مثبت فکر بدله کړئ، په جرائت او ډاډه وینا وکړئ.

**۵ ـ مثبت فکر وکړئ**

د یو شمېر خلکو ډار دومره ژور وي او د دوی په روح روان یې داسې منګولې لګولې وي، چې د بریا په اړه فکر کوي هم نه آرامېږي او په پورته ذکر شوې لارو چارو هم د تداوي وړ نه وي. که په دغسې حالت کې قرار لرئ نو اوږد مهاله مراقبه تمرین او مثبت فکر درته په کار دی، تاسې باید ورزش وکړئ، د وینا کولو تمرین وکړئ، مطالعه وکړئ او مثبت فکره واوسېږئ، له ذهن د منفي افکار شړل، په نفس باور زیاتوي او جرائت قوي کوي، هره ورځ له لسو تر شلو دقیقو سکوت وکړئ او ذهن آرام کړئ. کله چې پورته لارښوونې هره ورځ عملي کوئ ورو ورو په ډار بریا ترلاسه کوئ او په دې توانېږئ چې د وینا کولو لپاره ځان چمتو کړئ.

**۶ ـ پایلې ومنئ**

کله کله ممکن ښه وینا ونه کړئ، کله چې له دربځ ښکته کېږئ، د خپلې وینا منفي ټکي ومنئ. بیا هم وایو چې وینا کول مو نه وژني نو اړینه نه ده چې ترې وډار شئ.

د خپلې وینا پایله وارزوئ څکه بیا هم له وینا کولو سره مخامخېږی، که تاسې له خپلو تجربو ګټه واخلئ د بهتره کېدو لپاره مو لاره خلاصیږي او ورو ورو په ښه وینا وال بدلېږئ.

**۷ ـ خپل معلومات زیات کړئ**

کله چې تاسې هره ورځ مطالعه کوئ او خپل معلومات زیاتوئ د وینا لپاره مو انرژي زیاتېږي، ډېرې د کولو وړ خبرې مو په ذهن کښي او وینا مو اغېزمنوي، د دې لپاره چې بهتره وینا وکړئ دا هم مهمه ده چې اول د خپلې وینا پر موضوع فکر وکړئ، مثلاً څنګه یې پیل کړئ، کوم ټکي اول را واخلئ، په څرنګه انداز وینا وکړئ، څنګه ودرېږئ، د لاسونو حرکات مو باید څرنګه وي او دغسې نورې پوښتنې چې تاسې یې باید له وینا کولو مخکې له خپل ځان څخه وکړئ او ځواب ورته پیدا کړئ.

**۸ ـ سلیقه**

ستاسې ظاهري ښه هم د ګډونوالو په توجه جلبولو کې رول لري، کله چې ګډوډ غیر منظم دربځ ته ځئ اورېدونکي مو ظاهري ښې ته ګوري او فکر کوي، چې خبرې به یې هم د ده په شان غیر منظمې او ګډوډې وي، ښه لباس، منظم وېښتان ... تاسې ته د ښې وینا کولو جرائت درکوي او په نفس مو باور ورسره ښه کېږي.



# اهمیت پلان از دیدگاه دین مبین اسلام

نویسنده : مولوی محب الله حبیبی

پلان یکی از ابزارهای اساسی برای برنامه ریزی، سازمان‌دهی و اجرای موفقانه‌ای فعالیت‌ها در زنده‌گی شخصی و رسمی انسان‌ها می‌باشد، بررسی تاریخی زنده‌گی بشر از سالیان متمادی إلی اکنون حاکی از نوع پلان‌گذاری در راه رسیدن و تحقق اهداف، فعالیت‌ها وتهیه ما یحتاج حیات بشری در کرۀ خاکی است و به این منظور می‌توان ادعا کرد که پلان‌گذاری به منزلۀ جزی از فطرت بشر بشمار می‌رود و ادامه زنده‌گی بدون آن به هدر خواهد رفت.

دین مقدس اسلام به عنوان یک دین جامع، کامل و همه جانبه نگر، برنامه زنده‌گی امت مسلمه را در جهت رسیدن به سعادت حقیقی و جاویدانه در آخرت طور تنظیم نموده است که همه ابعاد آن شامل طرح و پلان‌گذاری دقیق می‌باشد. در این میان در تنظیم امور، نقش سازمان‌ها و مدیران جامعۀ اسلامی را نمی‌توان فراموش کرد، ضرورت پلان‌گذاری مناسب از منظر دینی در هر مجتمع یک امر مؤکد تلقی می‌گردید. از آن جایکه در مدیریت اسلامی هدف نهایی هدایت انسان به سوی بنده‌گی الله متعال است و تمام پلان‌گذاری‌ها به آن هدف ختم می‌شود بناءً یکی از اهداف مهم دیگر در طول این راستا، در مدیریت اسلامی قیام به سمت قسط و عدل است. که بدون برنامه‌ریزی جامع و دقیق در سطح فردی و اجتماعی و دین محور، میسر نخواهد شد.

از جمله اصول ارزنده‌ای پلان‌گذاری ظرافت و دقت، اولویت بندی، تفکر و اندیشیدن، زمان بندی مناسب و آینده نگر می‌باشد که اعتقاد به امکان حل مشکل، استفاده از تجارب دیگران و مشوره از اهل آن را در مدیریت اسلامی می‌توان از لوازم اساسی پلان‌گذاری آرمانی برشمرد. سازمان‌ها و نظام‌های مختلف جامعه به دلیل تمایل ذاتی به تولید کالا و ارایه‌ای خدمات بیشتر با هزینه کمتر، نیاز به پلان‌گذاری جامع و مؤثر دارند که این نیاز به شکل معمول آن در جامعه بسیار محسوس است.

پلان‌گذاری در انجام مطلوب هر کاری یک امر مهم و اجتناب ناپذیر پنداشته می‌شود و شاید کمتر کسی را بیابید که در انجام فعالیتی بدون پلان اگرچه اجمالی هم باشد وارد عمل گردد. زیرا انجام هر امری که مهم‌تر و تأثیرگذارتر باشد، ضرورت به ترتیب یک راهکار و یا پلان منظم جهت رسیدن به اهداف و یا مقاصد از قبل تعیین شده دارد که بدون آن طی نمودن فاصله به هدف محال می‌باشد.

**تعریف لغوی پلان**

پلان در اصل یک واژۀ لاتینی بوده که بعدها در زبان‌های اردو و فارسی وارد شده است و در حقیقت کلمه عربی هم نمی‌باشد. این کلمه در زبان‌های فارسی، دری، تاجیکی و اردو به معنای زیر به کار می‌رود.

نقشۀ کار، برنامۀ تنظیم شده، طرح و نقشه برای انجام یک عمل، طریقۀ تنظیم امور برای رسیدن به یک هدف.

**در زبان عربی کلمات ذیل برای پلان به کار می‌روند:**

الخُطَّة به معنای نقشه و راهکار، مَنْهَج به معنای راه روش و طریقۀ کار، تَدبیر به معنای برنامه‌ریزی، تَخطیط به معنای طراحی، بَرنَامج به معنای پروگرام.

پس پلان یعنی نقشۀ عملی و برنامۀ روشن جهت رسیدن و تحقق فعالیت‌ها به هدف مشخص و قابل اجرا که از قبل تعیین شده باشد.

**تعریف اصطلاحی پلان**

در اصطلاح علمی و مدیریتی پلان عبارت از یک برنامۀ منظم، هدفمند و زمان‌بندی شده برای رسیدن به یک هدف مشخص و از قبل تعیین شده با در نظر داشت بودجۀ معین، وسایل و ابزار معین، مراحل معین،

مسئولیت‌های معین و نتایج مورد انتظار می‌باشد.

اجزای مهم پلان اصطلاحی عبارت اند از: هدف، مراحل گام به گام، وسایل و منابع، بودیجه، مسؤل اجرا، زمان‌بندی و نتیجه مورد انتظار.

**تعریف اصطلاحی اسلامی برای پلان**

در علوم اسلامی، پلان معادل تدبیر، مشورت، خطه و منهج است و به معنای برنامه‌ریزی شرعی و عقلانی برای رسیدن به اهداف دینی و اصلاحی، مطابق با قرآن، سنت و اصول شرعی می‌باشد.

در صدر اسلام نمونه‌های بارز و تاریخی از پلان و برنامه‌ریزی دقیق در راستای اجرای امور داریم از جمله:

**الف:** پلان دعوت سری و مخفی پیامبر صلی الله علیه وسلم بعد از نبوت و رسالت که به شکل برنامه‌ریزی شده و منظم برای مدت سه سال در خانه یکی از اصحاب کرام که أرقم نام داشت صورت گرفت.

**ب:** پلان هجرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم از مکه مکرمه به مدینه منوره، هجرت پیامبر صلی الله علیه وسلم یکی از بزرگ‌ترین برنامه‌های سازمان یافته در تاریخ اسلام بشمار می‌رود که تمام مراحل آن همانند یک پلان از قبل طرحه شده طبق دستورات الهی دقیق، منظم و قدم به قدم به پیش می‌رفت.

**عناصر امنیتی پلان پیامبر صلی الله علیه وسلم**

انتخاب زمان مناسب برای هجرت، انتخاب مسیر غیرمعمول برای هجرت و انتخاب رفیق و همراه مناسب در هجرت.

**پلان تعیین مسؤلیت‌ها در مسیر هجرت از مکه به مدینه:**

**ابوبکر رضی‌الله‌عنه:** همراه و محافظ؛

**عبدالله بن ابی بکر رضی الله عنه:** انتقال اخبار در مورد قریش؛

**اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنه:** انتقال رساندن غذا و مواد خوراکی؛

**عامر بن فهیره:** مخفی کردن آثار قدم‌ها رسول الله صلی الله علیه وسلم ؛

**عبدالله بن ارِقَط:** راهنمای مسیرهای غیر معمول میان مکه و مدینه؛

مخفی بودن مسیر و نقطۀ توقف

پنهان شدن سه روزه در غار ثور بخشی از پلان بود و این یکی از دقیق‌ترین طرح‌های استراتیژیک در تاریخ اسلام است.

**پلان ساخت دولت اسلامی در مدینه**

پس از هجرت از مکه به مدینه، پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم سه پلان مهمی و سرنوشت ساز را برای تأسیس دولت اسلامی در مدینه منوره تدوین و عملی نمود.

۱. پلان اخوت و ایجاد وحدت اجتماعی میان مهاجرین و انصار؛

۲. پلان ایجاد و آبادانی مساجد؛

۳. پلان میثاق مدینه.

میثاق مدینه منحیث یک قانون اساسی کامل و جامع برای روابط داخلی و خارجی باشنده‌گان مدینه منوره بوده که در برگیرنده‌ای امنیت مشترک، آزادی دینی، نظام قضایی، اصول جنگ و صلح و حقوق اقلیت‌ها در آن زمان بود. میثاق مدینه را می‌توان اولین قانون اساسی کتبی در تاریخ اسلام برشمرد.

**پلان غزوه بدر**

**مراحل پلان:** شورا با صحابه (مشورت قبل از تصمیم)، انتخاب محل مناسب برای جنگ (پیشنهاد حباب بن منذر)، قطع خطوط آب دشمن، صف‌بندی منظم جنگی، تعیین فرماندهان گروه‌ها، استفاده از اطلاعات استخباراتی (سعد بن معاذ و سعد بن عباده) که در واقع این همه یک پلان منظم و طرحه شده بودند.

**پلان فتح مکه**

**ویژه‌گی‌ها:** پنهان‌کردن کامل خبر حرکت، استفاده از مسیرهای مختلف، تقسیم سپاه به گروه‌ها، اعلام عفو عمومی برای جلوگیری از خونریزی و ورود بدون جنگ به مکه، طرح نظامی و سیاسی بسیار موفق.

**پلان جمع قرآنکریم**

جمع آوری قرآنکریم یکی از عملکردهای مهم در زمان ابوبکر صدیق رضی‌الله‌عنه به شمار می‌رود که پس از شهادت حفاظ کرام در جنگ یمامه صورت گرفت و تمام مراحل آن طبق یک پلان منظم و دقیق به پیش برده شد و این در حالی بود که حضرت عمر رضی الله عنه در اوایل نظر مخالف به این پلان داشت.

**مراحل پلان جمع قرآنکریم:** انتخاب متخصصین قرآن از جمله زید بن ثابت رضی الله عنه، روش جمع‌آوری دو شاهد برای هر آیه، حفظ نسخۀ اصلی.

**پلان فتوحات اسلامی در زمان امیرالمؤمنین حضرت عمر رضی‌الله‌عنه که شامل موارد زیر بود:**

امیرالمؤمنین حضرت عمر رضی الله عنه با تشکیل یک منظومۀ مستحکم اداری و مدیریتی و طرح یک پلان دقیق و منظم توانست فتوحات را در تمام سر زمین‌های دور و نزدیک جزیرة العرب باز نماید.

خلاصه‌ای کلام اینکه تمام کارکردها و نو آوری‌های عصر خلفای راشدین همه با هم طبق پلان و برنامه‌ریزی‌های از قبل طرح شده به پیش برده می‌شدند و این همه الگوها و نمونه‌های بارز و چشم‌گیر از پلان اند که در اوائل و صدر اسلام وجود داشته و منحیث یک درس بزرگ برای ادامه حیات مان بجا گذاشته شده است.



# د کتاب او کتابتون ارزښت

ليکوال: نصير احمد قاسمي


کتاب د ليکنو هغه ټولگه ده، چې د لوستلو له لارې يې کولای شو چې نوي معلومات، نظريات او تجربې ترلاسه کړو. کتاب هغه وسيله ده، چې انسان فردي او ټولنيز پرمختگ ته رسوي. د کتاب ارزښت ته په کتو کولای شو، چې د عامه پوهاوي په لوړولو، د خلاقيتونو په وده، د اړيکو په ښه‌والي، د فشار په کمښت، تمرکز او پر ځان د اعتماد په لوړوالي کې ور څخه گټه واخلو.

له کوم ځايه بايد کتاب ترلاسه کړو؟ څرگنده ده، چې د دې پوښتنې په ځواب کې به ټول کتابتون ته اشاره وکړي. کتاب له موږ څه غواړي؟ د دې پوښتنې په ځواب کې به هم ټول مطالعې او لوستلو ته اشاره وکړي؛ نو بناً مطالعه او د کتاب لوستل يو ستر نعمت دی، چې انسان د پخوانيو انسانانو ژوند او تاريخي شاليد د لوستونکو لپاره څرگندوي. مطالعه په سترو کارونو کې د انسان د پرېکړو کولو وړتيا لوړوي او انسان ته ژوره پوهه او درک وربښي، لکه: څرنگه چې الله تعالی فرمايي:

«قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ» (سورة الزمر ۹ آيت)

ژباړه: ووايه، آيا برابر دي هغه کسان چې پوهېږي او هغه چې نه پوهېږي؟ په تحقق سره چې يوازې عقل لرونکي پند اخلي. په دې آيت شريف کې د علم پر ارزښت ټينگار شوی دی، چې دا پخپله د مطالعې او زده‌کړې لوړې مرتبې ته اشاره کوي، خو زموږ په فردي او او ټولنيز ژوند کې کتابتون څه ارزښت لري؟

کتابتون يوازې يوه حمايوي برخه نه، بلکې د اشخاصو او ادارو د فکري، تحليلي او ټولنيز مټ په توگه هم خورا ارزښتمن گڼل کېږي. په کتابتون کې زياتره هغه مطالب خوندي وي چې اسلامي، روغتيايي، ټولنيز، ادبي او کلتوري ارزښت لري او يوه مهمه برخه يې هغه کتابونه، مجلې او اسناد دي، چې د اړوندې ادارې په اړه معلومات درکوي. د يوې ادارې يا وزارت په چوکاټ کې د کتابتون شتون د علمي ثبات او فکري ودې لپاره



حیاتي رول لري، چې عبارت دي، له:

**۱. کتابتون په یوه اداره کې د مطالعې فرهنګ ترویجوي:**

کتابتونونه د ادارې کارکوونکو ته فکري او څېړنیز چاپېریال برابر وي او ټول د مطالعې او زده‌کړې پر لور هڅوي. په اوس وخت کې چې زموږ هېواد له امنیتي پلوه آرام او له بهرنیو لاسوهنو څخه هم په امان کې دی؛ نو زموږ خلک له هر څه زده‌کړې ته زیاته اړتیا لري او موږ کولای شو، چې د علم او پوهې په وسیله د ژوند له پېچلیو مرحلو څخه په ښه توګه ځان راوباسو.

**۲. کتابتون د دقیقو او شعوري پرېکړو په نیولو کې له موږ سره مرسته کوي:**

په کتابتونونو کې موثقې او تحلیلي علمي سرچینې موندل کېږي او دغه لاسرسی زموږ د پرېکړو نیولو په کیفیت کې مهم رول لوبوي. سطحي او احساساتي پرېکړې د ناپوهۍ او کم‌فهمۍ څخه سرچینه اخلي، که موږ له پوهې پرته پرېکړې وکړو پایله به یې حتمي ناکامي وي؛ نو له همدې امله دقیقې او شعوري پرېکړې له کتابتون څخه سرچینه اخلي او د ادارې او مدیریت بنسټیز اصل هم ګڼل کېږي. په پای کې له همدې لارې علمي کادرونه له ناپوهو کسانو څخه بېلېږي.

**۳. کتابتون کېدلای شي، چې د پخوانیو فرمانونو، مجلو او خبرونو د ساتنې ځای وي:**

په کتابتونونو کې د بېلابېلو کتابونو د شتون سربېره عموماً د حکومتونو د رهبرۍ پخواني فرمانونه، قوانین، د بېلابېلو ادارو مجلې او د ورځنیو خبرونو آرشیف هم خوندي وي. دغه اسناد د وختونو د پېښو د ثبت او یادونې لپاره یوه ارزښتناکه سرچینه ده.

**٤. کتابتون د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو ښه وسیله ده:**

د یوې ادارې کارکوونکي کولای شي، چې د کتابتون له محتویاتو څخه په استفادې نوې مهارتونه زده او خپله علمي سویه لوړه کړي.

**د کار او ټولنیزو چارو وزارت د مطبوعاتو ریاست کتابتون**

د اسلامي امارت له حاکمیت سره هم‌مهاله د مطبوعاتو د رئیس د نه‌ستړي کېدونکو هلو ځلو او د وزارت د رهبرۍ د پاملرنې له امله په ډېر لږ وخت کې یو فعال کتابتون د وزارت په چوکاټ کې رامنځته شو، چې د مطبوعاتو ریاست تر چتر لاندې فعالیت کوي. کتابتون د دې ریاست د علمي، ادبي او کلتوري برخو یوه ارزښتناکه څانګه ګڼل کېږي، چې د عامه پوهاوي، د مطالعې د فرهنګ د ودې او د ارام او مناسب چاپېریال د برابرولو په موخه، د وزارت کارکوونکو ته د کتاب لوستنې اسانتیا برابره کړې ده. دا کتابتون شاوخوا ٦٠٠٠ ټوکه بېلابېل کتابونه لري، چې عمده بېلګې یې دا دي:

- د دینی علومو برخه، چې قرآن کریم، تفسیرونه، احادیث او نورې دیني مقالې پکې شاملې دي؛
- د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمانونه؛
- د قوانینو او مقررو برخه، چې د عدلیې وزارت رسمي جریدې پکې شاملې دي؛
- د ارواپوهنې برخه، چې تربیوي، تعلیمي او د ماشوم د پالنې اړوند کتابونه پکې شامل دي؛
- د طبي علومو برخه، چې په ملي او نړیوالو ژبو لیکل شوي دي؛
- د فني او حرفوي زده کړو برخه، چې د فلزکارۍ، نجارۍ، خیاطۍ او نورو حرفو زده‌کړو کتابونه پکې شامل دي؛
- د عمومي تاریخ او عمومي جغرافیې برخې؛
- د ژبو او ادبیاتو، کمپیوټر او ټکنالوجۍ برخې.

# گام‌های کوچک بسوی خود کفایی

نویسنده: محمد ادریس رحیمی

**از مهارت تا تولید!**

پیرامون رشد و توسعه‌ای مهارت‌ها و استعدادهای داخلی کشور، به هدف داشتن یک جامعه‌ای توسعه یافته و خودکفا، خوشبختانه وزارت کار و امور اجتماعی از مدتی به این سو؛ با برنامه‌ریزی دقیق و مدیریت مؤثر، مراکز آموزش‌های فنی و حرفوی را در سطح مرکز و ولایات زیر چتر معینیت محترم امور کار که در رأس آن ریاست عمومی انکشاف مهارت‌ها قرار دارد ایجاد نموده است. این مراکز در بخش‌های بوت‌دوزی، بیک‌دوزی، خیاطی، نل‌دوانی، نجاری، ترمیم موتر، ترمیم موبایل، برق تعمیرات، ترمیم وسایل کوچک خانگی و ده‌ها حرفه‌ای دیگر فعالیت دارد که فعلاً صدها تن مصروف یاد گیری می‌باشند و هم‌چنان صدها تن دیگر طی چندین دور از این مراکز از بخش‌های مذکور سند فراغت بدست آورده و وارد بازار کار شده اند. لله‌الحمد، چند روز قبل شاهد حاصل و ثمربخشی آن با اشتراک در نمایشگاه بین‌المللی معرفی ظرفیت‌های تولیدی و خدماتی افغانستان بودیم.

حضور در این نمایشگاه دست‌آورد است بسا بزرگ و وسیله‌ای است برای ایجاد فضای اعتماد و پشتیبان به کتله‌ای که قبل از این نه مهارت داشتند و نه هم تولید (باالخصوص دانش‌آموزان صحت‌یاب شده‌ای مرکز ترک اعتیاد پل‌چرخی) حالا که از بی‌کاری به آموزش و از آموزش به تولید روی آورده اند، خود نماد است متین و گامی است استوار که در راستای رشد و توسعه‌ای اقتصادی خانواده، اجتماع و کشور برداشته می‌شود.

بناءً تشویق و حمایت شما از محصولات آنان می‌تواند امیدی باشد برای قشر که دیروز در فضای تاریک و غم‌ناک بی‌کاری و اعتیاد، در حال لرزان و پریشان زنده‌گی خود را ادامه می‌دادند، امروز با تمام قوت خویش در میدان و بازار تولید می‌رزمند، هر چند که این محصولات اندک و ناچیز باشند ولی ماهیت و اصالت این محصولات و وطنی بودن آن خیلی ارزشمند است، زیرا از دل رنج و زحمت و بی‌کاری به دل بازار و تولید روی آورده اند.

**چرا این محصولات؟**

هدف از نوشتن این متن و معرفی محصولات تولیدی مراکز فن و حرفه‌ای این وزارت تنها تبلیغات و فروش نیست بلکه رسیدن به روند است که محور اساسی خود کفایی اقتصادی را که همانا رسیدن به استقلال و امنیت اقتصادی است هویدا می‌نماید و از وابستگی و اُفت نفس‌گیر اقتصادی افغانستان را نجات می‌دهد. هم‌چنان تجربه‌ای جهانی نشان داده است که سه نوع کالا بیش از همه در استقلال اقتصادی یک ملک نقش حیاتی دارند:

۱- کالاهای غذایی
۲- کالاهای دارویی
۳- کالاهایی نظامی

جامعه‌ای که در تولید این کالاها به خود کفایی برسد، هرگز وابسته و محتاج بیگانه‌گان نخواهد شد. افغانستان عزیز با









وجود منابع غنی و دست نخورده و هم‌چنان نیروی کار فراوان تا هنوز متأسفانه نتوانسته است در این عرصه‌ها به‌صورت کامل خودکفا شود که این مشکل را می‌توان در ضعف در استفاده‌ای مؤثر از ظرفیت‌های داخلی سراغ کرد.

امروز ضرورت پنداشته می‌شود تا با تکیه بر آموزش‌های فنی و حرفوی و تولید داخلی، بخشی بزرگ اقتصاد افغانستان را از وابستگی به دیگران نجات دهیم و نسل جدیدی از تولید کننده‌گان و کارآفرینان افغان را پرورش دهیم تا چرخ اقتصاد ملی را به حرکت درآورند.

نداشتن و یا ضعف در تولید این سه کالای فوق سبب وابستگی شدید به دیگران می‌گردد. نخستین گامی که یک جامعه را از وابستگی اقتصادی و ورشکستگی رهایی می‌بخشد، این است که در تولید و تهیه‌ای این سه کالای مهم خود کفا باشیم، به ویژه کالاهای غذایی که پیوند مستقیم با حیات و زنده‌گی انسان دارد. بدترین حالت اقتصادی را هم کشورهای  داراست که نان و آب خود را به حد کفایت و معیاری آن تولید کرده نتواند و به توريد و واردات آن در دراز مدت ادامه دهد.

فلهذا آمریت بازاریابی ریاست عمومی انکشاف مهارت‌ها منحیث یک پُل ارتباطی فی مابین تیم تولید (مراکز فن و حرفه) و بازار، زمینه‌ای بازاریابی و فروش این محصولات را به عهده داشته تا بتواند فرهنگ استفاده و مصرف از تولیدات داخلی و حاصل دست‌رنج دانش آموزان مراکز فن و حرفه را در بین تمام مشتریان که نیازمند این محصولات هستند مانند ادارات امارتی، بخش‌های خصوصی و مردم عام ترویج نماید.

آمریت بازاریابی در پیوند به موارد چون:

معرفی محصولات به بازار؛

ایجاد و توسعه‌ای بازار؛

جذب و تشویق مشتریان؛

حفظ اعتماد مشتریان؛

تسریع و اثربخشی جریان فروش به بازارهای محلی، ملی و منطقوی را که نتیجه‌ای آن توانمند سازی و پاسخ‌گویی با محصولات رقیب را داشته باشد عهده‌دار بوده و از تمام هم‌وطنان خواهان است تا در راستایی دستیابی و تحقق این اهداف والا ما را یاری رسانند.

**دعوت به حمایت ملی**

پشتیبانی و حمایت از تولیدات داخلی در حقیقت حمایت از افراد شاغل، جوانان ماهر، خانواده‌ها و جامعه‌ای مصرفی افغانستان می‌باشد و اکنون زمان آن رسیده است که هر یکی از ما، به‌عنوان مصرف‌کننده و شهروند مسئول، سهم خود را در حمایت از تولیدات ملی ایفاء نمایم. اگر ما برای محصولات داخلی ارزش قائل نشویم و تولیدکننده‌ای هم‌وطن خود را حمایت وتشویق نکنیم، در واقع در رشد اقتصاد ملی سهیم نبوده و خیانت بزرگ را در مقابل وطن و ملت خود انجام خواهی داد.

محصولات تولیدی مراکز فنی و حرفوی که شامل انواع بیک‌های سفری، بیک‌های کمپیوتر، بیک نظامی، بیک مکتب و انواع از بوت و چبلی بوت با رنگ‌ها و سایزهای مختلف که هرچند با امکانات محدود و مواد اولیه‌ای ساده ساخته می‌شوند، اما نماد خلاقیت، تلاش و عزت حرفه‌آموزان هستند. هر خرید شما نه تنها حمایت از یک محصول بلکه سرمایه‌گذاری بر استعداد، امید و آینده‌ای افغانستان است.

**حمایت از تولیدات داخلی نماد خود کفایی**

تولیدات و محصولات مراکز آموزش‌های فنی و حرفوی وزارت کار و امور اجتماعی افغانستان، در حقیقت بازتابی از تلاش، استعداد و مدیریت کارای این وزارت و مربیان متخصص آن می‌باشد. این تولیدات نه تنها نشان دهنده‌ای کیفیت و خلاقیت در کار فنی و مسلکی است بلکه نمونه‌ای از خودکفایی و اراده‌ای جوانان مستعد کشور ما میباشد که پس از سپری کردن یک دوره‌ای آموزشی شش‌ماهه، مستقیماً وارد بازار کار شده و به عنوان افراد مسلکی و حرفه‌ای در مسیر تأمین معیشت خود و خانواده‌های خویش گام استوار برمی‌دارند.

به عنوان یک خدمتگار کوچک شما با اطمینان کامل گفته می‌توانم که استفاده از این محصولات، تنها اینکه یک عمل تجاری نیست بلکه یک مسئولیت ملی و وطنی است. و امید می‌رود که هر اداره، هر نهاد و هر شهروند متعهد در صدر جدول نیازمندی‌های اقتصادی خود، جایگاه ویژه‌ای برای محصولات داخلی قائل شوند. این محصولات که حاصل دسترنج فرزندان همین سرزمین‌اند، از لحاظ قیمت مناسب، دارای کیفیت عالی و از دوام بالای برخوردار می‌باشند و شایستگی آن را دارند که جاگزین اجناس وارداتی شوند. ترویج فرهنگ استفاده از تولیدات و محصولات داخلی عنقریب ما را به خود کفایی خواهی رساند إن‌شاءالله.

سرانجام بیایید با هم شعار «ساخت افغانستان برای افغانستان» را از یک جمله‌ای نمادین، به یک فرهنگ واقعی و ملی مبدل نماییم. هر خرید ما از تولیدات داخلی، در حقیقت سرمایه‌گذاری بر آینده‌ای جوانان کشور، تقویت اقتصاد ملی و گامی در جهت توسعه‌ای پایدار افغانستان است. و باید بدانیم که اگر ما به تولیدات و محصولات داخلی خویش در بازار ارزش و اهمیت قائل نشویم و دست تولیدکننده و زحمت کش خود را نگیریم و در رشد و تشویق آنان سهم فعال نداشته باشیم یک شهروند خوب و متعهد نخواهیم بود و در حقیقت وظیفه‌ای خود را در تولید ملی، عاید ملی و اقتصاد ملی کشور ایفاء نکرده ایم و برای همیش جامعه‌ای ما یک جامعه‌ای مصرفی و وابسته به غیر خواهد بود. و من الله التوفیق

# خبرونه

خبریال: موسی خان احمدزی



## د کار عالي شورا دریيمه ناسته وکړه

د کار او ټولنيزو چارو وزير الحاج ملا عبدالمنان عمري په مشرۍ او د کار چارو معين مولوي محمدزاهد احمدزي، د وزارت اړوندو رئيسانو، د افغانستان د کارګرانو او کارکوونکو ټولنې، د کسبګرو اتحاديې، د هېيوالو صنفي اتحاديې او بهر ته د افغان کارګرانو د لېږد اتحاديې رئيسانو په ګډون د کار عالي شورا دريیمه ناسته ترسره شوه.

ناستې ته په خطاب کې؛ الحاج ملا عبدالمنان عمري وويل: غوره به وي، چې ټولې صنفي اتحاديې او اتاقونه تر يو واحد چتر لاندې په ګډه، منظم او منسجم ډول کار وکړي.

د کار او ټولنيزو چارو وزير؛ زياته کړه: دا چې صادرات د يوه هېواد د اقتصاد ملا تير جوړوي، اړينه ده چې په خصوصي سکتور کې رهبري د وارداتي شرکتونو پرځای صنعتي او توليدي شرکتونو ته ورکړل شي.

په پای کې پريکړه وشوه، چې په راتلونکې کې د وروستی پريکړې لپاره دې دوه اړخيزې تخنيکي او د پريکړو نيولو کمېټې او د هرې برخې کاري ساحو ته په کتو دې لاربښود جوړ شي او د پريکړې لپاره دې هر اړخيزه شورا جوړه شي، چې د رهبري پلاوي د ټاکلو لپاره پريکړې وکړي.

## د کار او ټولنيزو چارو وزير بهر ته د افغان کارګرانو د لېږد د اتحاديې له مسوولينو سره وکتل

د کار او ټولنيزو چارو وزير الحاج ملا عبدالمنان عمري د خپل کار په دفتر کې بهر ته د افغان کارګرانو د لېږد د اتحاديې له رئيس نورالله فدوي او مل پلاوي سره وکتل او د اړوندو مسايلو په اړه يې خبرې وکړې.

په کتنه کې د دواړو لوريو بهرنيو هېوادونو ته د افغان کارګرانو د لېږد پر څرنګوالي، هلته د مېشتو افغان کارګرانو د اوسني وضعيت، د ستونزو د حل، د حقوقو د خونديتوب او اړتياوو، د بهرنيو چارو وزارت په ملتيا کارګرمنونکو هېوادونو ته له اتحاديې سره ثبت شرکتونو د رسمي معرفت، قطر او نورو هېوادونو کې د افغان کارګرانو د لېږد، د اتحاديې لپاره د رسمي دفترونو پرانيستلو او نورو موضوعاتو په اړه خبرې اترې وکړې.

د کار او ټولنيزو چارو وزير د اتحاديې له مسوولينو څخه وغوښتل، چې په خپلو کاري فعاليتونو کې نورې لازمې اسانتياوې رامنځته او په کارګر منوونکو هېوادونو کې افغان کارګرانو لپاره بازار موندنه وکړي. په افغانستان کې او ورڅخه بهر خپل فعاليتونه منظم او قانوني کړي د کارګر منوونکو هېوادونو د کارګرانو رسمي اتحاديو سره کاري اړيکې جوړې او د افغانستان اسلامي امارت سره مرسته وکړي. ترڅو هغه شرکتونه وپېژني او د قانون منګلو ته يې وسپاري، چې په غيرقانوني ډول بهر ته افغان کارګران استوي.

الحاج ملا عبدالمنان عمري زياته کړه: تمه ده، چې په نږدې راتلونکي کې د ايران اسلامي جمهوريت د کارپنځونې وزارت مرستيال کابل ته سفر وکړي او غوره به وي، چې په ګډه خپلې غوښتنې له هغوی سره شريکې کړو.

د افغان کارګرانو د لېږد اتحاديې رئيس هم په خپلو خبرو کې وويل: موږ د افغانستان اسلامي امارت سره هر ډول همکارۍ ته چمتو او هيله من يو، چې د اتحاديې ستونزې او ننګونې هم په پام کې ونيول شي. د قانوني فعاليت لپاره يې جوازونه په خپل وخت تمديد او بهرنيو کاري اړيکو ته يې د ټېنګښت زمينه برابره شي او بهر ته په قانوني ډول د افغان کارګرانو لېږد پروسه يوازې له هغوی سره په نږدې همکارۍ او همغږۍ پرمخ يوړل شي.

په پای کې دواړو لوريو په نږدې همکاريو ټينګار وکړ او ژمنه وشوه، چې ټول کارونه به په پوره همغږۍ پرمخ بيايي.

## د کار او ټولنيزو چارو وزير د اکبر موسسې له رئيس سره وکتل

د کار او ټولنيزو چارو وزير الحاج ملا عبدالمنان عمري د خپل کار په دفتر کې په افغانستان کې د افغانانو لپاره د مرستو د انسجام (اکبر) موسسې له رئيس ناميک حيدروف او مل پلاوي سره وکتل.

دواړو لوريو په افغانستان کې د بېکارۍ او بېوزلۍ کچې د کمښت پر څرنګوالي او پر حل لارو، د مرستو په غوره همغږۍ او مستحقينو ته د هغوی په رسولو او په ټوله کې د هېواد په کچه د زيانمنو ډلو پر ستونزو او د ټولنيز خونديتوب په ټېنګښت خبرې اترې وکړې.

الحاج ملا عبدالمنان عمري وويل: د فقر کچې کمښت او همدارنګه د بشري مرستو د غوره وېش لپاره ضروري ده، چې د مرستو په برخه کې د پروژو طرحه او پلي کولو کې له امارتي ادارو په ځانګړي توګه د کار او ټولنيزو چارو وزارت سره پوره همغږي وشي.

الحاج ملا عبدالمنان عمري زياته کړه: د کار او ټولنيزو چارو وزارت په خپل پنځه کلن ستراتيژيک پلان باندې چې له نېکه مرغه په وروستيو پړاوونو کې دی، کار کوي او هيله لرو چې دا پلان به د اکبر موسسې له استازو سره يوځای د افغانستان خلکو ته د کنفرانس او رسنيو له لارې خپور کړو.

د اکبر موسسې مشر ناميک حيدروف هم په خپلو خبرو د افغانستان پر ټولنيز وضعيت د کلي جاج او بحث وروسته ژمنه وکړه، چې له مرستندويه موسسو سره د افغاني ټولنې د واقعي وضيعت انځور شريکوي او هڅه به کېږي، چې د افغانستان اسلامي امارت وړانديزونه او نظريات په ټولو پروژو کې په پام ونيول شي.

ښاغلي حيدروف د پنځه کلن ستراتيژيک پلان له جوړولو څخه د خوښۍ په څرګندولو سربېره ژمنه وکړه، د پلان د پلي کولو لپاره چې موسساتو پورې اړه ولري پوره همغږي او همکاري تر سره کوي.

## د کار او ټولنيزو چارو وزير د ايران اسلامي جمهوريت له سفير سره وکتل

د کار او ټولنيزو چارو وزير الحاج ملا عبدالمنان عمري د خپل کار په دفتر کې د افغانستان لپاره د ايران اسلامي جمهوريت له سفير ښاغلي علي رضا بېکدلي سره وکتل او په دوه اړخيزو اړيکو په ځانګړې توګه د کاري اړيکو پراخوالی، په کمي او کيفي ډول د افغانستان د فني او حرفوي زده کړو د پراختيا پرځرنګوالي، په ايران کې د مېشتو افغان کډوالو د وضعيت ارزونې او د کارګرو د قانوني لېږد پر موضوعاتو يې خبرې وکړې.

په پيل کې الحاج ملا عبدالمنان عمري مېلمنو ته د ښه راغلاست ويلو سربېره زياته کړه: اړينه ده، چې په افغانستان کې د فني او حرفوي زده کړو او د کار بازار د غوره مديريت په برخو کې د ايران اسلامي جمهوريت له کامیابو تجربو څخه ګټه واخيستل شي او د دوه اړخيزو تجارتي او اقتصادي اړيکو د پراختيا لپاره پر نورو فرصتونو کار وشي، په ايران کې د افغان کارګرو شتون تنظيم او له غير قانوني حالت څخه وايستل شي، ترڅو د هغوی ستونزې تر ډېره بريده حل شي.

ورپسې علي رضا بېکدلي وويل: د افغانستان اسلامي امارت سره د ايران اسلامي جمهوريت اقتصادي او تجارتي اړيکې ډېرې پراخې او د لا پراختيا په حال کې دي او دا اقتصادي او تجارتي فرصتونه په دواړو ملګرو هېوادونو کې ډېر کاري فرصتونه رامنځته کوي او نورې پانګونې ته زمينه برابروي.

نوموړي همدارنګه زياته کړه: له افغانستان سره د کاري ځواک تبادلې، د کار بازار د غوره مديريت، فني او حرفوي زده کړو په ډګر کې د غوره او برياليو تجربو د شريکولو او په شته بالفعله او بالقوه فرصتونو د بحث لپاره تمه لرو، چې په نږدې راتلونکي کې د ايران اسلامي جمهوريت د کارپنځونې وزارت مرستيال افغانستان ته سفر وکړي، ترڅو په ټوله کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړيکو د لا پراختيا پر لارو چارو ګټور بحث وشي.

## د کار او ټولنيزو چارو وزير د کورنيو چارو له وزير سره وکتل

د کار او ټولنيزو چارو وزير، الحاج ملا عبدالمنان عمري د کورنيو چارو له وزير الحاج خليفه سراج الدين حقاني سره د اړوندو مواردو په اړه وکتل. کتنه کې دواړو لوريو په هېواد کې د سرتاسري امنيت په برخه کې د روانو هلو ځلو او په دې برخه کې د هېوادوالو د نږدې همکارۍ، کورنۍ او بهرنۍ پانګه اچوونې ته د مساعد چاپېريال، د نويو کاري فرصتونو رامنځته کېدو، د کار ملي کانفرانس د ژمنو پر تعقيب، د مسلکي مهارتونو د پياوړتيا، د ټولنيزو ستونزو د تشخيص او هغوی ته د حل لارو په لټولو، د ورکو شويو او بې سرپرستو ماشومانو او زيانمنو ډلو څخه د ملاتړ د څرنګوالي په اړه بشپړ بحثونه او خبرې وکړې.

ناسته کې په اړوندو برخو کې د دواړو وزارتونو ترمنځ د همکاريو په پراختيا او نږدې والي هم ټينګار ترسره او ژمنې وشوې، چې په دې برخو کې به روانې هڅې پياوړې او لا همغږې شي، ترڅو هېوادوالو ته په بېلابېلو سيمو کې لازم خدمات وړاندې او له حقوقو څخه يې دفاع وشي.

## د کار او ټولنيزو چارو وزير د يونيسف سازمان د ماشوم  ساتنې مسوولې سره وکتل

د کار او ټولنيزو چارو وزير الحاج ملاعبدالمنان عمري، د خپل کار په دفتر کې د يونيسف سازمان د ماشوم ساتنې له عمومي مسوولې شيما ګوپتا سيني او ورسره مل پلاوي سره وليدل.

د ناستې په پيل کې د کار او ټولنيزو چارو وزير په هېواد کې د ماشومانو د ملاتړ په برخه کې د يونيسف سازمان له فعاليتونو څخه د خوښۍ په څرګندولو سره زياته کړه: د ماشومانو په برخه کې د ملي او نړيوالو سازمانونو د فعاليتونو د انسجام او اغېزمنتيا لپاره ضروري ده، چې د ماشومانو د ملاتړ په برخه کې د هرې پروژې په ډيزاين او جوړولو کې د کار او ټولنيزو چارو له وزارت سره نږدې همغږي وشي، چې په افغانستان کې خدمات تر ټولو مستحقو خلکو او سيمو پورې ورسېږي او د زيانمنو ماشومانو د ملاتړ ترڅنګ د هغوی د کورنيو ملاتړ هم وشي، ترڅو ماشوم بيا ځلې کار ته مجبور نه شي او د هغه ښوونې او روزنې ته زمينه برابره شي.

د يونيسف سازمان د ماشوم ساتنې مسوولې اغلې شيما ګوپتا سيني هم په خپلو خبرو کې د يونيسف سازمان سره د کار او ټولنيزو چارو وزارت له همکاريو څخه د مننې ترڅنګ زياته کړه: د افغان زيانمنو ماشومانو د غوره ملاتړ لپاره ضروري ده، چې پر يوې مشخصې او مشترکې حمايوي طرحې باندې کار وشي، ترڅو فعاليتونه منظم او ملموسه پايلې ترلاسه شي.

هېره دې نه وي، چې په دې ناسته کې د کار او ټولنيزو چارو وزارت د بهرنيو اړيکو رئيس حافظ محمد يوسف امين او د آسيا په کچه د يونيسف سازمان د ماشومانو د ساتنې مسوول ويډيستو او د افغانستان برخې د ماشومانو د ساتنې مسوول مري سلوا هم ګډون درلود.

## د کار او ټولنیزو چارو وزیر د سپین بولدک په ښارګوټي کې د راستنېدونکو هېوادوالو له پنډغالي څخه لیدنه وکړه

راستنېدونکو هېوادوالو او په ځانګړې توګه د راستنو شویو له زیانمنو ډلو ستونزو او ننګونو څخه د نږدې لیدنې او هغوی ته د حل لارو د پیدا کولو په موخه د کار او ټولنیزو چارو وزیر الحاج ملا عبدالمنان عمري په مشرۍ تللي پلاوي د سپین بولدک په ښارګوټي کې د راستنېدونکو هېوادوالو له پنډغالي لیدنه وکړه.
الحاج ملا عبدالمنان عمري خپل افغانستان ته د راستنېدونکو هېوادوالو له بېرته راتګ څخه ښه راغلاست سربېره هغوی ته ډاډ ورکړ، چې د افغانستان اسلامي امارت د امکاناتو سره سم به د هغوی ستونزو او ننګونو ته رسېدنه وشي.
همدارنګه الحاج ملا عبدالمنان عمري زیاته کړه: د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي، چې ټولو راستنو شویو هېوادوالو ته د سرپناه، اوبو، خوړو او درملو د برابرولو لپاره بېړني اقدامات ترسره او په دې اړه د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکم سره سم ټولو امارتي ادارو ته دندې سپارل شوې دي، چې هره اداره د خپلو مسوولیتونو او دندو سره سم د راستنو شویو هېوادوالو لاسنیوی وکړي.
الحاج ملا عبدالمنان عمري هغوی ته په خطاب کې وویل: د کار او ټولنیزو چارو وزارت خپلو مسوولیتونو او دندو ته په کتو هڅه کوي، چې د راستنېدونکو ته د کاري فرصتونو د ایجاد کمېټې په مشرۍ د کاري فرصتونو زمینه برابره کړي، متخصص او په کار پوه اشخاص یې په خپل اطلاعاتي بانک کې ثبت او له تعلیم پاتې هېوادوال بیا د فني او حرفوي زده کړو مرکزونو، مدرسو او ښوونځیو ته د مسلک او زده کړو په موخه معرفي کړي.
د پنډغالي له کتو وروسته د کار او ټولنیزو چارو وزیر د امارتي سکتوري ادارو: د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، تجارت او صنعت، کور او ښارجوړولو، همدارنګه د کډوالو او بېرته راستنېدونکو ریاستونو له مسوولینو سره راستنېدونکو هېوادوالو ته د کار په چاپېریال او استخدام کې د لومړیتوب په ورکولو او د کارګرانو د حقوقو پر خوندیتوب ټینګار وکړ.

## د کار او ټولنیزو چارو وزارت نوي مالي او اداري معین دنده پیل کړه

د کار او ټولنیزو چارو وزارت نوی مالي او اداري معین مولوي عبدالعزیز نصیر نن خپلو کارکوونکو او مامورینو ته په هغه غونډه کې معرفي شو؛ چې د کار او ټولنیزو چارو وزیر الحاج ملاعبدالمنان عمري، د کار چارو معین مولوي محمدزاهد احمدزي، د چارو ادارې د لوی ریاست د امارت پالیسیو معاون مولوي عبدالباري عاطف، د کار او ټولنیزو چارو وزارت مشاورینو، رئیسانو او کارکوونکو په ګډون جوړه شوې وه.
په معرفيغونډه کې د کار او ټولنیزو چارو وزیر الحاج ملاعبدالمنان عمري وویل: دا وزارت د کار چارو او د ټولنیزو چارو اساسي معینیتونو او د مالي او اداري چارو حمایوي معینیت په درلودلو سره مکلفیت او مسوولیت لري، چې د ټولنې تر ټولو مستحقو، مظلومو او زیانمنو ډلو لپاره خپل خدمات وړاندې کړي او د هغوی ستونزې تر ډېره بریده حل کړي او د یتیمو او بې سرپرستو ماشومانو، ښځو او نورو ډلو لاسنیوی وکړي.
د چارو ادارې د لوی ریاست مرستیال هم د مولوي عبدالعزیز نصیر د تقرر په اړه د امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی د حکم له قرائت سربېره، د کار او ټولنیزو چارو وزارت له ټولو کارکوونکو او مسوولینو څخه وغوښتل، چې له نوي معین سره په ټولو چارو کې مرسته وکړي.
د کار او ټولنیزو چارو وزارت نوي مالي او اداري معین مولوي عبدالعزیز نصیر هم په خپلو خبرو کې وویل: ژمنه کوم چې کار او فعالیت به مو د اطاعت پر بنسټ وي او هڅه مو دا ده، چې د افغان ولس تر ټولو مظلومو او مستحقو ډلو لپاره به په ټول اخلاص او صداقت خدمت کوو.
په پای کې مولوي عبدالعزیز نصیر د کار او ټولنیزو چارو وزارت د رهبري پلاوي په ملتیا تر خپل دفتر پورې بدرګه او خپلو کارکوونکو ته وپېژندل شو او خپلو چارو کې ورته د توفیق او بریالیتوب دعا وشوه.

## د روان مالي کال په دوه‌یمه ربعه کې د کارموندنې یولس خصوصي شرکتونه ارزول شوي دي

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د بشري ځواک لوی ریاست اړونده د کارموندنې خصوصي خدمتونو د انسجام څانګې په دوه‌یمه ربعه کې د کارموندنې له یولسو خصوصي شرکتونو څخه نظارت ترسره کړی دی.
د کارموندنې خصوصي خدمتونو د انسجام څانګې د راپور له مخې په تېره یوه ربعه کې د کارموندنې یولسو خصوصي شرکتونو ته ۲۳۹۲ تنو هېوادوالو د کارموندنې په موخه غوښتنې کړې دي، چې د شرکتونو له چانې، تصدیق او غوراوي وروسته ۱۰۳۷ تنه بېلابېلو ادارو، شرکتونو او فابریکو ته د کار لپاره وروپېژندل شوي وو، چې په پایله کې یې ۵۵۹ تنه جذب او خپلو کورنیو ته حلاله روزي برابروي.

## د کار چارو معین د کورنیو چارو وزارت له معین سره وکتل

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د کار چارو معین الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي د کورنیو چارو وزارت ستر امنیتي معین ستر پاسوال مولوي صدر ابراهیم سره وکتل.

د کتنې په پیل کې د کار چارو معین وویل: د کار او ټولنیزو چارو وزارت په هېواد کې د بېکارۍ کچې د راټیټولو مسوولیت لري او په همدې اساس یې د تېر کال د کار ملي کانفرانس جوړ کړ او اوسمهال د هغه د ژمنو پر تعقیب بوخت دی.

مولوي محمد زاهد احمدزي زیاته کړه: هڅه کوو چې له امارتي ادارو، بنسټونو او همدارنګه خصوصي سکتور سره په ګډه همغږۍ او همکارۍ په هېواد کې د بېکارۍ کچه راټیټه کړو، چې په دې برخه کې د کورنیو چارو وزارت همکاري اړینه او د دې همکارۍ د لا پراختیا غوښتونکو یو.

د کورنیو چارو وزارت د امنیتي چارو ستر معین ستر پاسوال مولوي صدر ابراهیم هم په خپلو خبرو کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت د هلو ځلو او فعالیتونو د ستایلو سربېره ژمنه وکړه، چې په نږدې راتلونکي کې به د کمیت او کیفیت پر بنسټ د خپلو اړتیا وړ خالي بستونو نوملړ د کار او ټولنیزو چارو وزارت سره شریک او هڅه به وکړو ترڅو د ګمارنې پر مهال نویو راستنو شویو هېوادوالو ته چې لېستونه یې د کار او ټولنیزو چارو وزارت سره دي استخدام کړو.

د کار او ټولنیزو چارو وزارت، په دوهیمه ربعه کې د ۱۹۲۱ تنو ماشومانو قضیو ته رسېدنه کړې ده.

د دې وزارت د ماشومانو د ساتنې ریاست د روان کال په دوهیمه ربعه کې د ولایتي ریاستونو په هلو ځلو په هېواد کې د نږدې ۱۹۲۱ تنو ردمرزي او ورک شویو ماشومانو قضیو ته رسېدنه کړې ده.

د ماشومانو د ساتنې ریاست د ارقامو له مخې په یادو ماشومانو کې ډېری د فراه، بامیان، جوزجان، کندز، لوګر، کاپیسا، بغلان، پروان، غور، دایکندي، سمنګان، لغمان، بادغیس، غزني، نورستان، سرپل، هرات، پکتیکا، ننګرهار، بلخ او فاریاب ولایتونو اوسېدونکي دي چې د ایران، پاکستان، سعودي عربستان او ترکیې له هېوادونو څخه ردمرز شوي وو او د کار او ټولنیزو چارو وزارت او اړوندو ولایتي ریاستونو په هڅو او همغږۍ بېرته له خپلو کورنیو سره یو ځای شوي دي.

د دې وزارت اړوندو ولایتي ریاستونو او همکارو موسساتو په ګډو هڅو د دې ماشومانو د کورنیو تر پیدا کېدو پورې د دوی د هستوګنې، خوراک، څښاک او د لارې د کرایې سربېره د ماشومانو د ساتنې کمېټې له لوري د ماشومانو د حقونو په اړه ماشومانو او د هغوی کورنیو ته د عامه پوهاوي برنامې هم وړاندې کړې دي.

د یادونې وړ ده، چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت د یتیمو او بې سرپرستو ماشومانو د ملاتړ او ساتنې په ډګر کې له موسساتو او خیریه بنسټونو سره ۷ هوکړه لیکونه هم لاسلیک کړي دي.

## د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قوانینو د غوره پلي کېدو په موخه له علماوو سره ناسته وشوه

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د مالي او اداري چارو معین الحاج مولوي دین محمد حقبین په مشرۍ، د امر بالمعروف و نهی عن المنکر قوانینو د غوره پلي کېدو په موخه د کار او ټولنیزو چارو وزارت له علماوو او کارکوونکو سره لومړنۍ ناسته ترسره شوه.

په پیل کې د مالي او اداري چارو معین الحاج مولوي دین محمد حقبین په خپلو خبرو کې وویل: د کار او ټولنیزو چارو وزارت کې د الهي قوانینو د غوره پلي کولو په موخه د دعوت او ارشاد ریاست د منسوبینو سره د همکارۍ لپاره د علماوو کمېټه رامنځته شوه.

همداراز مولوي حقبین د خپلو خبرو په دوام کې زیاته کړه، چې په نېکۍ امر کول او له بدو کړنو څخه د خلکو مخنیوی یوازې د امربالمعروف او نهی عن المنکر مسوولیت نه دی، بلکې هر انسان مکلف دی چې په ټولنه کې خلک له ناوړو کړنو څخه منع او نېکیو ته یې بلنه ورکړي.

## د راستنېدونکو هېوادوالو لپاره د کاري فرصتونو د رامنځته کولو کمېټې نوبتي ناسته تر سره کړه

د کار او ټولنیزو چارو وزارت؛ د کار چارو معین الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي په مشرۍ د راستنېدونکو کډوالو لپاره د کاري فرصتونو د رامنځته کولو په موخه، په کمېټې ناسته کې د صنعت او سوداګرۍ، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ، د کډوالو او بېرته راستنېدونکو او د اقتصاد وزارتونو استازو شتون درلود تر سره شوه.

په پیل کې د کار چارو معین په خپلو خبرو کې وویل: له ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکي هېوادوال له ډېرو اقتصادي ستونزو او ننګونو سره مخامخ دي، چې د هغوی د باثباته ژوند د پرمخ بیولو لپاره د دوامداره عوایدو سرچینو، د اوسېدو ځای، په هېواد کې ورته د کاري فرصتونو او هغو ته د فني او حرفوي زده کړو زمینې هم برابره شي، ترڅو خپلې ستونزې حل او په آرامه فضا کې ژوند وکړي.

همداراز مولوي احمدزي زیاته کړه، چې راستنېدونکي هېوادوال زموږ د ټولنې مهمه برخه جوړوي، موږ د همکارو ادارو سره په همغږۍ مکلف یو، چې د هغوی د باثباته ژوند لپاره کار وکړو.

همدارنګه د کار چارو معین د خپلو خبرو په دوام کې زیاته کړه، چې د هرات، ننګرهار او قندهار سربېره په نورو ولایتونو کې هم د راستنېدونکو هېوادوالو ستونزو ته په خپل وخت سره د رسېدنې په موخه به کمېټې رامنځته شي.

په پای کې د بېلابېلو همکارو ادارو استازو په خپلو خبرو کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت هڅې وستایلې او زیاته یې کړه، چې له دې وزارت سره په متقابله او اغېزمنه همغږۍ به د بېرته راستنېدونکو هېوادوالو ستونزو ته رسېدنه وکړو او د کار پنځونې په برخه کې به خپل مسوولیت ترسره کړو.



# د مرگ څخه وروسته د انسان (۹) ارمانونه چې په قرانکريم کې يې ذکر شوي

راټولوونکی: حمايت الله شېرزاد

الله متعال په خپل پاک کلام کې فرمايي: «وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ» (الذاريات: ٥٦ )

ژباړه: ما پيريان او انسانان نه دي پيدا کړي، بلکې يوازې د دې لپاره چې زما عبادت وکړي.

الله متعال د دې رسالت د رسولو لپاره پر خپل خواږه او محبوب پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم خپل کلام نازل کړ. ټول انسانان دې نړۍ ته د عبادت لپاره استول شوي، چې د الله متعال عبادت او شکريه ادا کړي. د قرانکريم په بله آيه کې راځي: «الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا» (سورة الملک) ژباړه: هغه (الله) چې مرگ او ژوند يې پيدا کړل، تر څو تاسو وازمايي چې ستاسو څخه څوک ښه عمل کوونکی دی. نو دا دنيا د ازموينې ځای ده او انسان بايد کوښښ وکړي چې داسې کار ونه‌کړي چې وروسته پښېمانه شي.

لومړی ارمان: «يَا لَيْتَنِي كُنتُ تُرَابًا» (سورة النبأ: ٤٠)

ژباړه: ای کاش، چې زه خاورې وای.

کله چې گناهکاره انسان د دوزخ سخت عذابونه او د حساب او کتاب د ورځې سخته صحنه ويني، نو په حسرت وايي:

کاشکې چې زه خاورې وای، چې دا عذابونه مې نه ليدل.

دوه‌يم ارمان: «يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي» (سورة الفجر: ٢٤)

ژباړه: ای کاش، چې ما د خپل اخري ژوند لپاره څه کړي وای.

کله چې انسان وگوري چې هېڅ کوم داسې يو عمل يې نه دی ترسره کړی چې دی د دوزخ له عذاب څخه وژغوري (ځکه اعمال يې کم او گناه

يې زياته ده)، نو بيا وايي: ای کاش چې ما خپل اخري ژوند لپاره(چې هغه اخروي دی)يو څه کړي وای.

دريیم ارمان: «يَا لَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتَابِيَهْ» سورة الحاقة: ۲۵

ژباړه: ای کاش، چې ما ته خپله عمل نامه نه وای راکړل شوې.

کله چې يو گناهکاره انسان خپله عمل نامه ترلاسه کوي ، بيا گوري چې عمل نامه کې يې د هغه ټولو تېروتنو يادونه شوې نو ارمان کوي چې: ای کاش ما ته خپله عمل نامه نه وای راکړل شوې.

څلورم ارمان:«وَيْلَتَىٰ لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا» سورة الفرقان: ۲۸

ژباړه: ای کاش چې فلانی مې په ملگرتیا نه وای نیولی.

انسان چې په دنيا کې له کوم غلط او ناسم کس سره ملگرتيا وکړي، چې دا ملگرتيا د دنيا او اخرت د تباهی سبب ورته شي، بيا دا شخص د قيامت په ورځ دا افسوس کوي چې: ای کاش، ما فلانی په ملگرتيا نه وای نیولی.

پنځم ارمان: «يَا لَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا» (سورة الأحزاب: ٦٦)

ژباړه: ای کاش، چې موږ د الله او د رسول فرمانبرداري کړې وای.

کله چې يو کافر وگوري چې الله پاک د مسلمانانو لپاره څومره نعمتونه ورکړي، نو بيا دا کافر انسان افسوس کوي چې ای کاش ما د الله او د رسوال الله صلی الله علیه وسلم فرمانبرداري کړې وای او له دې نعمتونه څخه اوس زه هم برخمن وای. خو افسوس! چې د قيامت ورځ د پښېمانۍ نه، بلکې د حساب او کتاب ورځ ده. هلته نه عمل کېږي او نه فرصت وي، بلکې يوازې بدله ورکول کېږي.

شپږم ارمان: «يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلًا» (سورة الفرقان: ۲۷)

ژباړه: ای کاش، چې ما د رسول الله لاره خپله کړې وای.

کله چې دوزخيان وگوري چې کومو کسانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت او کردار خپل کړي وو، الله متعال هغوي ته ډېر نعمتونه ورکړي نو بيا وايي: چې ای کاش موږ هم پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ايمان راوړی وای نو اوس به بريالي وای.

اووم ارمان: «يَٰلَيۡتَنِي كُنتُ مَعَهُمۡ فَأَفُوزَ فَوۡزًا عَظِيمًا» (سورة النساء: ۷۳)

ژباړه: ای کاش، زه هم له هغوی سره وای، نو ما به هم ستره کاميابي ترلاسه کړې وای.

کافران چې کله د مسلمان وضعيت د قيامت په ورځ ويني چې الله پاک څومره نعمتونه ورته ورکړي نو بيا ډېر افسوس کوي، چې ای کاش زه هم په دنيا کې ښه عمل کوونکی او مسلمان وای، اوس به ما هم ستر برياليتوب ترلاسه کړی وای.

اتم ارمان: «يَٰلَيۡتَنِي لَمۡ أُشۡرِكۡ بِرَبِّيٓ أَحَدًا» (سورة الكهف: ۴۲)

ژباړه: ای کاش، چې ما د خپل رب سره څوک شريک کړی نه وای.

هغه انسان چې په دنيا کې يې له الله تعالی سره شريک نيولی وي، مشرک بلل کېږي، نو مشرک چې د قيامت په ورځ گوري چې الله پاک مشرکانو ته ډول ډول سزاگانې ورکوي نو بيا وايي چې: ای کاش ما د خپل رب سره څوک شريک کړی نه وای.

د قرانکريم په بله آيه کې راځي: «إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ» (المائدة: ۷۲)

ژباړه: هر چا چې شريک ونيو له الله سره، په تحقيق حرام کړی دی الله پر دغه (مشرک) باندې جنت او ځای د دې دی دوزخ او ظالمانو ته به هېڅ مرسته کوونکی نه وي.

نهم ارمان: «يَٰلَيۡتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ» (سورة الأنعام: ۲۷).

ژباړه: ای کاش، موږ بېرته (دنيا ته) ستانه شو، څو د خپل رب آيتونه دروغ ونه گڼو او د مؤمنانو له جملې څخه شو.

کله چې کفار د قيامت د ورځې صحنه ويني، چې ټولې هغه وعدې او خبرې چې په قرآن کريم کې ذکر شوې دي ريښتيا دي، نو کافران به وايي: کاشکې موږ هم په دنيا کې دا خبره منلې وای او مسلمانان شوي وای، د دوي دا پښېماني به هېڅ گټه ونه‌لري، ځکه د عمل وخت پای ته رسېدلی وي او د حساب وخت به پيل شوی وي.

دا هغه ارمانونه دي چې انسان يې تر مرگ وروسته يوازې حسرت کوي او عمل پرې نشي کولای. حسن بصري رحمه الله علیه چې د تابعينو له لويو علماوو څخه وو، وايي: «الدنيا دار عملٍ ولا حساب، والآخرة دار حسابٍ ولا عمل.» ژباړه: دنيا د کړنو ځای دی، نه د حساب؛ او آخرت د حساب ځای دی، نه د کړنو. د همدې لپاره انسان بايد پخپل ژوند کې، د خپلې عقېدې او د عمل اصلاح کوښښ وکړي. ترڅو د دنيا او اخرت په ازموينه کې بريالی شي.

# کابل کې ۸۰۰ تنه له اعتیاد څخه رغېدلي کسان له فني او حرفوي زده کړو څخه فارغ شول

د کار او ټولنیزو چارو وزارت اړوند د پلچرخي د فني او حرفوي زده کړو له مرکز څخه په پنځمه ښوونیزه دوره کې ۸۰۰ تنه له اعتیاد څخه رغېدلي اشخاص د خیاطۍ، د تعمیراتو برېښنا، بوټ گنډلو، بېگ گنډلو او د کورنیو برېښنایي وسایلو د ترمیم په حرفو کې تر شپږمیاشتنیو نظري او عملي زده کړو وروسته فارغ شول.

په همدې مناسبت جوړې شوې فراغت غونډې ته د کار او ټولنیزو چارو وزارت د کار چارو معین الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي په خپلو خبرو کې وویل: خوښ یم چې په داسې یوه غونډه کې سره راټول یو، چې موخه یې د فني او حرفوي زده کړو له بېلابېلو رشتو څخه د گڼ شمېر هغو هېوادوالو فراغت دی، چې تر څه مودې مخکې له خپلو کورنیو او ټولنې جلا او د ژوندانه تر ټولو سختې او نه هېرېدونکې شپې او ورځې یې سبا کولې، خو لله الحمد تر راټولولو او لازمي درملنې وروسته زده کړې ورکړل شوې، چې نن فارغ او په دې سره به خپلو کورنیو ته د حلالې نفقې د برابرولو وسیله وگرځي او د مسوول فرد او ماهر کارگر په توگه به ټولنې ته وړاندې شي.

همداراز مولوي احمدزي زیاته کړه: تاسو ته څرگنده ده، چې دا وزارت په مرکز او ولایتونو کې نورو ډلو ته د فني او حرفوي زده کړو د خدماتو د وړاندې کولو ترڅنگ له اعتیاد څخه رغېدلو کسانو ته هم یادې زده کړې ورکوي، چې په دې لړ کې څه موده وړاندې په کندز ولایت کې هم دا لړۍ پیل او په ټوله کې د هېواد په کچه تر دې مهاله نږدې ۹ زره له اعتیاد څخه رغېدلو اشخاصو دا زده کړې ترلاسه کړې او نن د ټولنې د نورو اشخاصو په توگه خپل مسوولیتونه لري او د خپل کار او کسب مالکان دي، چې یو بېساری او تاریخي گام دی. موږ ژمن یو چې دا لړۍ به تعقیبوو او له ټولو امکاناتو څخه به په دې لاره کې کار اخلو.

د کار چارو معین همدارنگه له فارغانو او د هغوی له کورنیو څخه وغوښتل، چې خپل کسب او کار ته په مخلصانه ډول غاړه ورکړي او له یادو ځوانانو سره د یوه مسوول کس په توگه چلند وکړي.

د یادولو وړ ده، چې په فراغت غونډه کې د دې وزارت د مالي او اداري چارو معین مولوي دین محمد حقبین، د مهارتونو د پراختیا لوی رئیس مولوي رحیم الله صراح، د فني او حرفوي زده کړو د مرکزونو د تنظیم رئیس مولوي عبدالواحد فایز، مالي او حسابي رئیس مولوي احمدالله رفیق، د اداري او خدماتو رئیس مولوي خیرمحمد خیرخواه، سمیع الله ابراهیمي، د کار چارو مشاور قاري محمدکریم حنفي او نورو مسوولینو هم گډون درلود.

# In Kabul, 800 People Recovered from Drug Addiction Graduated from Vocational and Technical Training Programs

At the Pul-e-Charkhi Vocational and Technical Training Center, 800 individuals who had recovered from drug addiction graduated after completing six months of practical and theoretical courses. It was the fifth round of the training program. The Pul-e-Charkhi Vocational and Training Center operates under the Ministry of Labor and Social Affairs. They received training in tailoring, construction, electricity, shoe-making, bag-making, and the repair of household electrical appliances.

We are gathered here today to celebrate the graduation of many of our compatriots from various vocational fields. These people were separated from their families and society, experiencing some of the hardest and most unforgettable days of their lives. Thanks to Allah, after being gathered, treated, and provided with training, they have now graduated. From today, they will be able to earn a lawful livelihood for their families and return to society as responsible individuals and skilled workers. The Deputy Minister of Labor and Social Affairs, Alhaj Mawlavi Mohammad Zahid Ahmadzai, added these remarks while speaking at the graduation of 800 graduates from vocational training centers.

As you know, the Ministry of Labor and Social Affairs is providing vocational training services to other vulnerable groups in the capital and other provinces. The MoLSA offers vocational and training programs to recovered addicts. Recently, this program was also launched in Kunduz province, and so far, across the country, nearly 9,000 recovered individuals have received this training. Today, they live peacefully and responsibly as part of society, and some of them are owners of their own works and businesses. This is a remarkable and historic step. We are committed to continuing this process and will use all available resources to support it. We ask you to remain dedicated to your professions, and also, we also ask your families to treat you decently. The Deputy Minister of Labor and Social Affairs, Alhaj Mawlavi Mohammad Zahid Ahmadzai, further added these remarks while speaking to the newly graduated.

It is worth mentioning that, in this graduation ceremony the Deputy Minister for Financial and Administrative Affairs, Mawlawi Din Mohammad Haqbeen; the General Director of Skills Development, Mawlawi Rahimullah Sarah; the Director of Vocational and Technical Training Centers Management, Mawlawi Abdul Wahid Faiz; the Director of Finance and Accounting, Mawlawi Ahmadullah Rafiq; the Director of Administrative and Services, Mawlawi Khair Mohammad Khairkhwah; the Director of press and spokesperson of the ministry, Samiullah Ebrahimi; Advisor to the Deputy Minister of Labor Affairs, Qari Mohammad Karim Hanafi; and other officials attended in this graduation ceremony.

# تخرّج ۸۰۰ شخص من المتعافين من الإدمان في كابل من مراكز التعليم الفني والمهني

تخرّج ۸۰۰ شخص من المتعافين من الإدمان من مركز بوليشرخي للتعليم الفني والمهني التابع لوزارة العمل والشؤون الاجتماعية، وذلك في الدورة التعليمية الخامسة بعد إكمالهم ستة أشهر من الدروس النظرية والعملية في مجالات الخياطة، وكهرباء الإنشاءات، وصناعة الأحذية، وصناعة الحقائب، وتصليح الأجهزة الكهربائية المنزلية.

وفي المناسبة ألقى كلمة الحاج المولوي محمد زاهد أحمدزي، معين الشؤون العمل لوزارة العمل والشؤون الاجتماعية، قال فيها: نحن اليوم مجتمعون في حفل هدفه تخريج عدد كبير من مواطنينا الذين أكملوا دراستهم في مجالات مختلفة من التعليم الفني والمهني، وهمٍ أولئك الذين كانوا قبل مدة قصيرة يعيشون بعيداً عن أسرهم ومجتمعهم ويمرون بأصعب وأقسى أيام حياتهم، ولكن بحمدالله بعد جمعهم وتلقيهم العلاج اللازم، تم تعليمهم وتدريبهم، وها هم اليوم يتخرجون ليكونوا وسيلة لتأمين رزقٍ حلال لأسرهم، وليقدموا للمجتمع كأفراد مسؤولينً وعمالٍ مهرة.

وأضاف المولوي أحمدزي قائلاً: من المعلوم أن وزارة العمل والشؤون الاجتماعية، إلى جانب تقديمها خدمات التعليم الفني والمهني لشرائح أخرى في المركز والمحافظات، تقوم أيضاً بتوفير هذه الدورات للأشخاص المتعافين من الإدمان. وفي هذا السياق بدأتٍ هذه السلسلة قبل مدة وجيزة في محافظة قندوز أيضاً، وقد تلقى حتى الآن ما يقارب تسعة آلاف من المتعافين من الإدمان هذه الدورات في مختلف أنحاء البلاد، وهم اليوم يتحملون مسؤولياتهم كأفراد في المجتمع، وأصبحوا أصحاب أعمال وحرف خاصة، وهذا إنجاز فريد وتاريخي. ونحن ملتزمون بمواصلة هذه المسيرة، وسنستفيد من جميع الإمكانيات المتاحة لتحقيق ذلك.

وطلب المولوي محمد زاهد أحمدزي من الخريجين وأسرهم أن يُقبلوا على حرفهم وأعمالهم بإخلاص، وأن يتعاملوا مع هؤلاء الشباب بوصفهم أفرادا مسؤولين.

وجدير بالذكر أن حفل التخرج شارك فيه إلى جانب معين الماليةٍ والإدارية، الحاج المولوي دين محمد حقبين، كلٍ من رئيس العام تنمية المهارات المولوي رحيم الله صراح، رئيس تنظيم مراكز التعليم الفني والمهني المولوي عبد الواحد فائز، رئيس قسم المالية والمحاسبة المولوي أحمد الله رفيق، رئيس قسم الإدارة والخدمات المولوي خير محمد خيرخواه، رئيس قسم الإعلام سميع الله إبراهيمي، ومستشار شؤون العمل القاري محمد كريم حنفي، وعدد من المسؤولين الآخرين.

# د کار او ټولنیزو چارو وزارت ارتباطي چینلونه

## د مطبوعاتو ریاست

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د مطبوعاتو ریاست د دې وزارت د فعالیتونو او لاسته راوړنو د رسنیز کولو مسوولیت لري. دا برخه دنده لري، چې په مستقیم ډول د ټولنیزو رسنیو فېسبوک، ایکس او وېب پاڼو، مجلې او همدارنګه د چاپي، انځوریزو او غږیزو رسنیو له لارې د دې اداري د کار او ټولنې اړوندو فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه پراخ او کره اطلاعات وړاندې کړي. د دې اداري د مطبوعاتو دفتر دنده لري، چې خبري آژانسونو، خبریالانو او نورو اتباعو ته چې اطلاعاتو ته اړتیا ولري، معلومات چمتو کړي. هغه لارې، چې د دې ډول اطلاعاتو د شریکولو لپاره کارول کېږي، عبارت دي لـــــــه: مطبوعاتي بیانیې، اعلامیې، مطبوعاتي کانفـرانسونه او له بهرنیو رسنیو سره اړیکې او د معلوماتو شریکول. همدارنګه د کار او ټولنیزو چارو وزارت د ټولنیزو رسنیو په رسمي پاڼو کې یې خپرېدل دي.

### په ټولنیزو رسنیو کې رسمي پاڼې

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د ټولنیزو رسنیو رسمي پاڼې له فېسبوک، ایکس او وېب پاڼو، وټس‌آپ ګروپ او د یوټیوب چېنل څخه عبارت دي. دا حسابونه د اړتیا وړ اطلاعاتو د لېږد د اصلي وسایلو په توګه عمل کوي.

### فېسبوک پاڼه:

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د رسنیو په برخه کې یوه رسمي او تائید شوې فېسبوک پاڼه لري، چې د (۲۴۷۰۰۰) زره تنو خاورنکو په درلودلو سره او د اطلاعاتو د شریکولو په برخه کې یوازینۍ د باور وړ سرچینه ده.

**molsa_gov_af**




### ایکس پاڼه:

د کار او ټولنیزو چارو وزارت رسمي ایکس پاڼه د حیاتي اطلاعاتو یوه بله سرچینه بلل کېږي، چې د دې اداري اړوند خبرونه پکې په رسمي(پښتو او دري) انګلیسي او عربي ژبو خپرېږي. په اوس وخت کې دا پاڼه (۴۹۸۱۵) تنو خاورنکي لري، چې دا لړۍ مخ پر زیاتېدو ده.

**molsa_gov_af**




### د کار او اجتماع مجله:

دا مجله په دري میاشتني ډول چاپېږي. د کار او اجتماع مجله د کتاب لوستنې کلتور په ترویج کې هم مهمه ونډه لري. دا مجله په حقیقت کې د هغو ټولو فعالیتونو او لاسته راوړنو روایت کوونکې ده، چې په جزییاتو او مستند ډول د دې اداري اړوند د کره اطلاعاتو سرچینه ګڼل کېږي.

**publication@molsa.gov.af**




### وېب پاڼه:


د دې وزارت د اطلاعاتو بانک ګڼل کېږي، چې په مسلکي ډول طرحه شــوې خــــبرونه، راپورونه، روایتونه، پیښې، مرکې او مستندونه په ملي او نړیوالو ژبو پکې خپرېږي.

**www.molsa.gov.af**



هم‌وطنان گرامی!
وزارت کار و امور اجتماعی، به‌منظور پاسخ‌گویی به نیازهای بازار کار و کاهش میزان بیکاری در کشور، مراکز آموزش‌های فنی و حرفه‌ای را در سراسر کشور فعال ساخته است. از این فرصت ارزشمند بهره‌مند شوید.

شمارهٔ تماس: 0794225128




KAAR WA IJTEMA

Quarterly Journal of
The Ministry of Labor and Social Affairs
31th:Volume
2025 Autumn